بسم الله الرحمن الرحیم

# د مدافع وکیلانو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

### مبني

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د یو دېرشمي مادې د حکم له مخې د مدافع وکیلانو د حقوقو او وجایبو اوپه هغوی پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی .

### د مدافع وکیل د ټاکلو حق

**دوه یمه ماده :**

هر شخص کولای شي د نیول کېدو سره سم د تور د دفع یا د خپل حق د اثبات لپاره مدافع وکیل و ټاکي .

### وړیا حقوقي مساعدت

**دریيمه ماده :**

د اساسي قانون په یو دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم د تطبیق په منظور ، د عدلیې وزارت مکلف دی په جنایي قضیو کې د بیوزلو (بې بضاعته) اشخاصو لپاره ، د عدلي تعقیب په هر پړاو کې ، حقوقي مساعد وټاکي .

د حقوقي مساعدینو د فعالیت ډول ، تشکیل ، دندې ، واکونه او نورې اړوندې چارې ، د جلا مقررې په واسطه تنظیمېږي.

# قانون وکلای مدافع

## فصل اول

## احکام عمومی

### مبنی

**مادهٔ اول :**

این قانون به تأسی از حکم مادهٔ سی و یکم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم حقوق ووجایب وکلای مدافع و امور مربوط به آنها وضع گردیده است .

### حق تعیین وکیل مدافع

**مادهٔ دوم :**

هرشخص می تواند برای دفع اتهام به مجرد گرفتاری و یا برای اثبات حق خویش وکیل مدافع تعیین کند.

### مساعدت [illegible] حقوقی

**مادهٔ سوم :**

به منظورتطبیق حکم مندرج مادهٔ سی و یکم قانون اساسی ، وزارت عدلیه مکلف است در قضایای جنایی برای اشخاص بی بضاعت در هر مرحلهٔ ازتعقیب عدلی مساعد حقوقی تعیین نماید .

طرز فعالیت، تشکیل ،وظایف، صلاحیت ها و سایر امور مربوط به مساعدین حقوقی توسط مقررهٔ جداگانه تنظیم می گردد .

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اداره

### څلورمه ماده :

(۱) په مدافع وكيلانو پورې د اړوندو چارو د تنظـيم او رهبرۍ په منظور ، د مدافع وكيلانو انجمن په خپلواكه او غير دولتي ډول جوړېږي.

(۲) د مدافع وكيلانو انجمن د عمومي مجمع ، رئـيس ، اجرائيه هيئت ، او غړو لرونكى دى .

(۳) دمدافع وكيلانو د انجمن تشكيل، د فعاليت ډول ، د غړيتوب شرايط ، سلوک او نـورې اړونـدې چـارې د اساسنامې په واسطه تنظيمېږي.

## اصطلاحګانې

### پنځمه ماده :

لاندې اصطلاحګانې پدې قانون كې لاندې معناوې افـاده كوي :

۱- مدافع وكيل : هغه شخص دى چې د مدافع وكيلانو پـه فهرست كې شامل وي ، د قانون د حكمونو مطابق د محكمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤكل له حق څخه دفاع يا دعوي اقامه كوي .

۲- حقوقي مساعد : مدافع وكيل دى چـې پـه جنـايي موضوعګانو كې د عدليې وزارت لخوا د بېوزلو اشخاصو لپاره ټاكل كېږي .

۳- بېوزله ( بې بضاعته) : هغه شخص دى چې مالي نـه توان ته په پام سره په جنايي موضوعګانو كې د مدافع وكيل د استخدام وس (قدرت) و نه لري.

۴- د دفاع د وكالت جوازليک: هغه مطبوع حقوقي سند دى چـې شـكل او محتـوي يـې د مـدافع وكيلانو د انجمن لخوا ټاكل كېږي.

## اداره

### مادۀ چهارم :

(۱) به منظور تنظيم و رهبری امورمربوط به وكلای مدافع انجمن وكلای مدافع به شكل مستقل و غيـر دولتـی تأسيس می گردد .

(۲) انجمن وكلای مدافع دارای مجمع عمومی ، رئيس ، هئيت اجرائيه و اعضاء می باشد .

(۳)تشكيل، طرزفعاليت،شرايط عضويت ، سلوک وساير امور مربوط به انجمن وكلای مدافع توسـط اساسـنامه تنظيم می گردد.

## اصطلاحات

### مادۀپنجم :

اصطلاحات آتی دراين قانون معانی ذيل راافاده می نمايد:

۱- وكيل مدافع: شخصی است كه شامل فهرست وكلای مدافع بوده ،مطابق احكام قـانون در پيشـگاه محـاكم وسايرمراجع ازحق مؤكلی خويش دفاع يا دعوی را اقامه می نمايد.

۲- مساعد حقوقی: وكيل مدافع است كه در موضوعات جنايی از طرف وزارت عدليه برای اشخاص بی بضـاعت تعيين می گردد.

۳- بی بضاعت : شخصی است كه نظر به عدم توانـايی مالی در موضوعات جنايی قدرت استخدام وكيل مدافع را نداشته باشد.

۴- جوازنامۀ وكالت دفاع :سند مطبوع حقوقی است كه شكل ومحتوای آن از طرف انجمن وكلای مدافع تعيين می گردد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه یم فصل

## د دفاع په وکالت باندې د اشتغال شرایط

### د اشتغال شرایط

**شپږمه ماده :**

(۱) هغه شخص د دفاع وکالت په شغل بوختېدی شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي :

۱- د افغانستان د تابعیت لرل.

۲- د جنایت په جرم نه محکومیت .

۳- د هېواد له دننه یا بهر څخه د حقوقو یا شرعیاتو له پوهنځیو یا له هغو پورته د فراغت د سند لرل، د عالي تحصیلاتو د وزارت له ارزیابی او تائید وروسته.

۴- د ستاژ د ټاکلې دورې تېرول او د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامې د حکمونو مطابق د تصدیق ترلاسه کول .

هغه شخص چې لږ تر لږه درې کاله موده یې د قضاء ، څارنوالی او عدلیې په مسلکي رشتو کې په بالفعل ډول خدمت کړی وي ، د ستاژ د ټاکلې دورې په تېرولو مکلف ندی .

(۲) د هېواد له رسمي دیني مدرسو څخه د فراغت د سند یاېې د معادل لرونکی په هغه صورت کې کولای شي د دفاع وکالت په شغل بوخت شي چې د دې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲ او ۴) جزء کې پر درج شوو شرایطو برسېره یې له جواز لرونکو مدافع وکیلانو څخه د یوهٔ تر نظر لاندې لږ تر لږهٔ درې کاله عملي کار سرته رسولی وي .

(۳) بهرنی تبعه نشی کولی په افغانستان کې دارالوکاله ولري ، خو د لاندې شرایطو په لرلو سره کولای شي د افغانستان داسلامي جمهوریت په محکمو او نورو مراجعو کې د بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو په اړوندو دعواوو کې له خپل مؤکل څخه وکالت وکړي :

۱- په افغانستان کې د استوګنې د جواز لرونکی وي.

۲- له خپل متبوع هېواد څخه د وکالت د شغل د جواز لرونکی وي .

# فصل دوم

## شرایط اشتغال به وکالت دفاع

### شرایط اشتغال

**مادۀ ششم:**

(۱) شخصی به وکالت دفاع اشتغال ورزیده می تواند که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن تابعیت افغانستان.

۲- عدم محکومیت به جرم جنایت .

۳- داشتن سند فراغت از پوهنځی های حقوق یا شرعیات و یا بالاتر از آن از داخل و یا خارج کشور بعد از ارزیابی و تایید وزارت تحصیلات عالی.

۴- سپری نمودن دورۀ معینۀ ستاژ وحصول تصدیق طبق احکام اساسنامۀ انجمن وکلای مدافع.

شخصی که حداقل مدت سه سال در رشته های مسلکی قضاء، څارنوالی وعدلیه طور بالفعل خدمت نموده باشد، مکلف به سپری نمودن دورۀ معینه ستاژ نمی باشد.

(۲) حایزسند فراغت از مدارس دینی رسمی کشور یا معادل آن در صورتی میتواند به وکالت دفاع اشتغال ورزد که علاوه بر شرایط مندرج اجزای (۱، ۲و۴) فقرۀ (۱) این ماده حد اقل سه سال کار عملی را تحت نظر یکی از وکلای مدافع دارندۀ جواز انجام داده باشد .

(۳) تبعۀ خارجی نمی تواند در افغانستان دارالوکاله داشته باشد اما تحت شرایط ذیل میتواند در محاکم و سایر مراجع جمهوری اسلامی افغانستان در دعاوی مربوط به اشخاص حقیقی و حکمی خارجی از مؤکل خویش وکالت نماید:

۱- دارای جواز اقامت در افغانستان باشد.

۲- دارای جواز شغل وکالت از کشور متبوعۀ خویش باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د قانون د حکمونو مطابق ، خپل مالياتي ذمت اداء کړي.

## ددفاع وکالت به شغل دبوختېدو موانع

اوومه ماده :

لاندې اشخاص نشي کولای د دفاع وکالت په شغل بوخت شي :

۱- قاضيان ، څارنوالان ، د اردو ، پوليسو او ملي امنيت صاحب منصبان ، د ملکي خدمتونو مامورين او دښارواليو کارکوونکي ، دملي شوري ، ولايتي او ولسوالۍ د شوري ګانو غړي د دندې د تصدۍ په وخت کې .

د حقوقو او شرعياتو د پوهنځيو استادان ( د پوهنتون په موافقه) او حقوقي مساعدين له دې امر څخه مستثني دي.

۲- هغه اشخاص چې د جنايت د جرمونو په ارتکاب محکوم يا د محکمې په حکم له خپلې دندې څخه طرد شوي وي .

۳- هغه اشخاص چې د محکمې دحکم مطابق د دفاع وکالت په شغل له بوختېدو څخه محروم شوي وي .

## د وکالت جواز ليک

اتمه ماده :

(۱) د مدافع وکيلانو انجمن ، د دې قانون په شپږمه ماده کې د درج شوو شرايطو لرونکي شخص ته د دفاع وکالت جواز ورکوي.

(۲) د مدافع وکيلانو انجمن د مدافع وکيل بشپړ شهرت او د جواز د صادرېدو نېټه بالترتيب د مدافع وکيلانو په فهرست کې ثبتوي.

## د انجمن لخوا د وکيلانو معرفي

نهمه ماده :

د مدافع وکيلانو انجمن مکلف دی هغه شخص چې د مدافع وکيلانو په فهرست کې شاملېږي ، په ليکلې توګه اړوندو مراجعو ته معرفي کړي.

۳- ذمت مالياتی خويش را طبق احکام قانون اداء نمايد.

## موانع اشتغال به وکالت دفاع

مادۀ هفتم :

اشخاص آتی نمی توانند به وکالت دفاع اشتغال ورزند :

۱- قضات، څارنوالان، صاحب منصبان اردو، پوليس ، امنيت ملی ، مامورين خدمات ملکی و کارکنان شاروالی ها واعضای شورای ملی، شورای ولايتی و ولسوالی حين تصدی وظيفه.

استادان پوهنځی های حقوق وشرعيات ( به موافقۀ پوهنتون ) و مساعدين حقوقی از اين امر مستثنی اند .

۲- اشخاصی که به ارتکاب جرايم جنايت محکوم يا به حکم محکمه از وظايف خويش طرد گرديده باشند .

۳- اشخاصی که طبق حکم محکمه از اشتغال به وکالت دفاع محروم گرديده باشند.

## جوازنامۀ وکالت

مادۀ هشتم:

(۱) انجمن وکلای مدافع به شخص واجد شرايط مندرج مادۀ ششم اين قانون جواز وکالت دفاع اعطاء می نمايد.

(۲) انجمن وکلای مدافع شهرت مکمل وکيل مدافع و تاريخ صدور جواز را بالترتيب در فهرست وکلای مدافع ثبت می نمايد .

## معرفی وکلا ازطرف انجمن

مادۀ نهم :

انجمن وکلای مدافع مکلف است شخصی را که در فهرست وکلای مدافع شامل می گردد، کتباً به مراجع مربوط معرفی نمايد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيم فصل

## د مدافع وکیلانو حقوق او وجایب

### د مدافع وکیل حقوق

**لسمه ماده :**

هغه شخص چې د دفاع وکالت جواز اخلي ، د لاندې حقوقو لرونکی وي :

۱– د دې قانون د حکمونو مطابق ، د محکمې او نورو مراجعو په وړاندې ، په قضايي او جزايي قضيو کې د مؤکل له حقوقو څخه دفاع .

۲– د کشف ، تحقيق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې ګډون او له مؤکل څخه په نيابت سره د ځواب وړاندې کول .

۳– د مؤکل د کشف ، تحقيق او محاکمې له بهير او پايلو څخه يې خبرتيا .

۴– په مؤکل پورې د اړوندو جزايي او حقوقي دعوي د پاڼو مطالعه کول.

۵– په خوندي او محرمانه چاپېريال کې تر څارنې ، توقيف يا حبس لاندې مؤکل سره ملاقات او مفاهمه، مراسلات او مخابرات .

٦– حقيقي او حکمي اشخاصو ته د حقوقي مشورو ورکول.

۷–د مدافع وکيلانو د انجمن د داخلي کړنلارې او دواړو خواوو د توافق مطابق دحقوقي خدمتونو اومشورو د سر ته رسولو په بدل کې له مؤکل څخه دحق الزحمې اخستل.

۸– د دفاع وکالت د دفتر جوړول.

۹– په تقنيني سندونو کې له درج شوو نورو حقوقو څخه ګټه اخستل.

### خونديتوب (مصؤنيت)

**يوولسمه ماده :**

مدافع وکيل او دفتر يې له تېري (تعرض) څخه مصؤن دی ، هېڅ شخص د دولت په ګډون نشي کولای د هغهٔ په چارو

# فصل سوم

## حقوق و وجایب وکلای مدافع

### حقوق وکیل مدافع

**مادهٔ دهم:**

شخصی که جواز وکالت دفاع راخذ می نماید ، دارای حقوق آتی می باشد:

۱– دفاع ازحقوق مؤکل درقضایای حقوقی وجزایی به پیشگاه محکمه وسایرمراجع مطابق احکام این قانون.

۲– اشتراک درتمام مراحل کشف ، تحقیق و محاکمه و اراییهٔجواب به نیابت ازمؤکل .

۳– اطلاع از جریان کشف ، تحقیق و محاکمهٔ مؤکل ونتایج آن .

۴– مطالعهٔ اوراق دعوای جزایی و حقوقی مربوط مؤکل .

۵– ملاقات و مفاهمه ، مراسلات و مخابرات با مؤکل تحت نظارت ، توقیف یا حبس در محیط مصؤن و محرمانه.

٦– اراییهٔ مشوره های حقوقی به اشخاص حقیقی وحکمی .

۷– اخذ حق الزحمه ازمؤکل دربدل انجام خدمات ومشوره های حقوقی مطابق طرزالعمل داخلی انجمن وکلای مدافع و توافق جانبین .

۸– ایجاد دفتر وکالت دفاع.

۹– استفاده از سایرحقوق مندرج در اسناد تقنینی .

### مصؤونیت

**مادهٔ یازدهم:**

وکیل مدافع ودفتروی ازتعرض مصؤون بوده، هیچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لاسوهنه وکړي یا یې د دندې د ترسره کېدو خنډ شي ، خو د قانون په حکم .

## د وکالت قرار داد

**دوولسمه ماده :**

(۱) د مدافع وکیل او مؤکل حقوق او وجایب د اړخونو ترمنځ د لیکلي مقاولې پربنسټ د اړوندې اساسنامې مطابق ټاکل کېږي او تثبیتېږي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مقاوله په دریو نقلونو کې ترتیبېږي چې یو نقل یې مدافع وکیل ، یو نقل یې مؤکل او بل نقل یې اړوندې محکمې ته سپارل کېږي.

## د مدافع وکیل وجایب

**دیارلسمه ماده :**

مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکی دی :

۱– د مؤکل د اسرارو ساتل .

۲– په ریښتینولۍ او ایمانداری او د اشخاصوحیثیت ته په در ناوي سره د وکالت د چارو اجراء کول.

۳– د محکمو او نورو ادارو د نظم په پام کې نیول.

۴– په قضایي غونډو کې ګډون کول.

۵– مقابل لوري ته له هر ډول حقوقي مساعدت څخه ډډه کول.

٦– د مؤکل د پاڼو او سندونو ساتل او د مطلب له حل کېدو وروسته د هغو مستردول .

۷– دسندونو او پاڼو د اخستلو او مستردولو په وړاندې د لیکلي سند ورکول .

۸– د نورو وکیلانو پر ضد له ناوړو تبلیغاتو څخه ډډه کول .

۹– له هغو عملونو څخه مخنیوی چې بې موجبه دمحکمې د حکم او د تحقیق د بهیر د ځنډېدو سبب شي.

۱۰– نورو اشخاصو ته د دارالوکالې د نوم او عنوان له په عاریت ورکولو څخه ډډه کول .

شخص به شمول دولت نمی تواند درامورآن مداخله یا مانع انجام وظیفه اش گردد ، مگربه حکم قانون.

## قرارداد وکالت

**مادۀ دوازدهم:**

(۱)حقوق ووجایب وکیل مدافع ومؤکل به اساس مقاولۀ تحریری بین طرفین مطابق اساسنامۀ مربوط تعیین وتثبیت می گردد.

(۲) مقاولۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده درسه نقل ترتیب که یک نقل آن به وکیل مدافع ، یک نقل آن به مؤکل ونقل دیگرآن به محکمۀ مربوط سپرده می شود.

## وجایب وکیل مدافع

**مادۀ سیزدهم :**

وکیل مدافع دارای وجایب ذیل می باشد:

۱– حفظ اسرار مؤکل .

۲– اجرای اموروکالت با صداقت وایمان داری و احترام به حیثیت اشخاص .

۳– رعایت نظم محاکم وسایر ادارات .

۴– اشتراک در جلسات قضایی.

۵– خودداری ازهرنوع مساعدت حقوقی به جانب مقابل.

٦– حفظ اوراق واسناد مؤکل واسترداد آن بعد ازحل مطلب.

۷– دادن سند کتبی دربرابر اخذ واسترداداسناد و اوراق .

۸– خودداری ازتبلیغات سوء برعلیه سایروکلاء.

۹– جلوگیری ازاعمالی که سبب معطل شدن بی موجب حکم محکمه وجریان تحقیق گردد.

۱۰– اجتناب ازعاریت دادن نام وعنوان دارالوکاله به سایر اشخاص .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- د دارالوکالې د آدرس د بدلېدو په هکله اړوندو مراجعو ته خبر ورکول .
۱۲- د جواز نوي کول .
۱۳- د قانون د حکمونو مطابق پر عایداتو باندې د مالیاتو ورکول .
۱۴- د مدافع وکیلانو انجمن ته د کلنیو عایداتو خبر ورکول .
۱۵- د عدلیې وزارت په تأیید په یوه کال کې په وړیا توګه لږترلږه له دریو جنایي قضیو څخه دفاع .
۱٦- د مدافع وکیلانو د انجمن په اساسنامه کې درج د سلوک د قواعدو په پام کې نیول .
۱۷- د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامې مطابق د نورو دندو سر ته رسول .

## د دفاع وکالت د دفتر د جوړولو شرایط

**څوارلسمه ماده :**

مدافع وکیل مکلف دی د دفاع د وکالت د شغل د پرمخبیولو په منظور ټاکلی دفتر جوړ او لاندې مراتب په پام کې ونیسي:

۱- عدلیې وزارت او د مدافع وکیلانو انجمن ته د دارالوکالې د پتې ورکول .
۲- د اداري سندونو د ثبت د دفتر ترتیبول .
۳- د مؤکلینو د سندونو د ثبت د دفتر ترتیبول .
۴- په ټاکلي دفتر کې د عوایدو ثبتول .
۵- د وارده مراسلو او پیغامونو ثبتول .

## لوحه او مهر

**پنځلسمه ماده :**

(۱) د دفاع وکالت دفتر د لوحې لرونکی وي چې پکې په جوازلیک کې درج ، ثبت شوی عنوان لیکلی کېږي .
(۲) د دفاع وکالت دفتر د ځانګړي مهر لرونکی وي چې

۱۱- اطلاع به مراجع ذیربط درمورد تغییر آدرس دارالوکاله.
۱۲- تجدید جواز.
۱۳- پرداخت مالیات برعایدات طبق احکام قانون.
۱۴- اطلاع دهی از عایدات سالیانه به انجمن وکلای مدافع.
۱۵- حد اقل دفاع از سه قضیهٔ جنایی طور رایگان در یکسال به تایید وزارت عدلیه .
۱٦- رعایت قواعد سلوک مندرج اساسنامهٔ انجمن وکلای مدافع .
۱۷- انجام سایر وظایف طبق اساسنامهٔ انجمن وکلای مدافع .

## شرایط ایجاد دفتر وکالت دفاع

**مادهٔ چهاردهم:**

وکیل مدافع مکلف است به منظور پیشبرد شغل وکالت دفاع دفتر معین را ایجاد و مراتب ذیل را رعایت نماید :

۱- ارایهٔ آدرس دارالوکاله به وزارت عدلیه و انجمن وکلای مدافع .
۲- ترتیب دفتر ثبت اسناد اداری .
۳-ترتیب دفترثبت اسناد مؤکلین.
۴- ثبت عواید دردفترمعین.
۵- ثبت مراسلات و پیام های وارده .

## لوحه ومهر

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱)دفتر وکالت دفاع دارای لوحهٔ یي می باشد که در آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکيلانو دانجمن له تأييد وروسته د امتياز د خاوند په لګښت برابرېږي .

## سوګند

**شپاړسمه ماده :**

مدافع وکيل مکلف دی د جواز ليک له اخستلو وروسته ، لاندې سوګند ، د مدافع وکيلانو د انجمن داجرائيه هيئت په حضور کې اداء کړي :

بسم الله الرحمن الرحيم

(د خدای (ج) په نوم سوګند يا دوم چې د دفاع وکالت شغل په امانت او رېښتينولۍ سره اداء او اسرار يې وساتم ، د اسلام د سپېڅلي دين ، اساسي قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ټولو نافذه تقنيني سندونو حکمونه په پام کې نيسم او درۀ ناوی يې کوم او خپل مؤکل ته خيانت نه کوم .)

## د نوي مدافع وکيل ټاکل

**اوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې مدافع وکيل له مؤکل سره د مقاولې له عقدولو وروسته د مؤجه عذر له مخې ، د خپلې ژمنې په ترسره کولو و نه توانېږي ، کولای شي د مؤکل په ليکلې موافقه ، بل مدافع وکيل هغۀ ته معرفي کړي .

(۲) مؤکل کولای شي د کشف ، تحقيق يا محاکمې په هر پړاو کې خپل مدافع وکيل عزل کړي .

(۳) د دې مادې د ( ۱ او ۲) فقرې په حالاتو کې وکيل او مؤکل مکلف دي له موضوع څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي.

عنوان ثبت شدۀ مندرج جوازنامه تحرير می ګردد.

(۲)دفتر وکالت دفاع دارای مهر مخصوص بوده که بعد از تاييد انجمن وکلای مدافع به مصرف صاحب امتياز تهيه می ګردد.

## سوګند

**مادۀ شانزدهم:**

وکيل مدافع مکلف است بعد از اخذ جوازنامه ،سوګند ذيل را درحضورهيئت اجرائيۀ انجمن وکلای مدافع اداء نمايد :

بسم الله الرحمن الرحيم

( به نام خداوند (ج) سوګند ياد می کنم که شغل وکالت دفاع را با امانت وصداقت اداء و اسرار آن راحفظ نمايم ، احکام دين مقدس اسلام ، قانون اساسی وتمام اسناد تقنينی نافذۀ دولت جمهوری اسلامی افغانستان را رعايت واحترام نموده وبه مؤکل خويش خيانت نمی نمايم .)

## تعيين وکيل مدافع جديد

**مادۀ هفدهم:**

(۱) هرګاه وکيل مدافع بعد ازعقد مقاوله با مؤکل بنابرعذرمؤجه قادر به ايفای تعهد خويش نګردد ، می تواند به موافقۀ کتبی مؤکل ، وکيل مدافع ديګررا به وی معرفی نمايد .

(۲)مؤکل می تواند در هر مرحلۀ يي از کشف ، تحقيق يا محاکمه وکيل مدافع خويش را عزل نمايد .

(۳) درحالات مندرج فقرات (۱و۲) اين ماده وکيل ومؤکل مکلف اند ازموضوع به مراجع ذيربط اطلاع دهند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه استعفي او له نه حضور څخه خبرول

**اتلسمه ماده:**

(۱) مدافع وکیل نشي کولای د قضايي غونډې له جوړېدو څخه یوه اونۍ د مخه استعفي وکړي.

(۲) مدافع وکیل مکلف دی د مؤجه عذر د درلودلو په صورت کې، د قضايي غونډې له پیل کېدو لږ تر لږه یوه اونۍ دمخه له خپل نه حضور څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي.

## په جزايي محکمه کې د حضور اولویت

**نولسمه ماده:**

که چېرې مدافع وکیل په عین وخت کې په دوو یا څو غونډو کې په حضور مکلف وي، د هغهٔ حضور په جزايي محکمه کې لومړی توب لري او په هغه صورت کې چې د توکیل حق و لري، کولای شي د غیر جزايي موضوع د تعقیب لپاره بل وکیل غوره کړي.پرته لدې، مکلف دی د یوې اونۍ په ترڅ کې اړوندې محکمې ته یادښت واستوي.

## د مدافع وکیل جامې

**شلمه ماده:**

مدافع وکیل په قضائي غونډه کې، د ځانګړو جامو په اغوستلو مکلف دی چې نمونه یې د مدافع وکیلانو د انجمن لخوا تجویزیږي.

## د امتیازونو د لېږدولو موانع

**یوویشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د صورت دعوي او د هغې د دفع د ترتیب حق، محضر لیکنه، په محکمو کې د مؤکل له حقوقو څخه دفاع، د دارالوکالې د دفتر مهر او د خپل شغل نور مسلکي امتیازونه په مؤقته یا دایمي توګه بل

## عدم استعفی و اطلاع از عدم حضور

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) وکیل مدافع نمی تواند یک هفته قبل از تدویر جلسهٔ قضایی از وکالت استعفی نماید .

(۲) وکیل مدافع مکلف است درصورت داشتن عذر مؤجه، حد اقل یک هفته قبل از شروع جلسهٔ قضایی ازعدم حضورخویش به مراجع ذیربط اطلاع دهد.

## اولویت حضوردرمحکمهٔ جزایی

**مادهٔ نزدهم :**

هر گاه وکیل مدافع در عین زمان به حضور در دو یا چند جلسهٔ قضایی مکلف باشد ، حضور او در محکمهٔ جزایی مقدم بوده و در صورتی که حق توکیل را داشته باشد ،می تواند برای تعقیب موضوع غیر جزائی وکیل دیگری را انتخاب نماید . در غیر آن ، مکلف است در خلال یک هفته به محکمهٔ مربوط یادداشت ارسال نماید .

## لباس وکیل مدافع

**مادهٔ بیستم:**

وکیل مدافع درجلسهٔ قضایی، مکلف به پوشیدن لباس مخصوص است که نمونهٔ آن ازطرف انجمن وکلای مدافع تجویز می گردد .

## موانع انتقال امتیازات

**مادهٔبیست ویکم:**

وکیل مدافع نمی تواند حق ترتیب صورت دعوی و دفع آن، محضر نویسی، دفاع در محاکم ازحقوق مؤکل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص ته ولېږدوي. ددارالوکالې داداري چارو اجراء لدې حکم څخه مستثنيٰ ده.

## د شهادت موانع

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱)مدافع وکیل له عزل، استعفی او یا دوکالت له پایته رسېدو وروسته نشي کولای په همدې موضوع کې د مقابل لوري وکیل یا شاهد شي، یا هغهٔ ته سلا ورکړي.

(۲) مدافع وکیل په هغه قضیه کې چې دفاع یې کوي یا یې د هغې په هکله لیکلې مشوره ورکړې وي، شاهد کېدای نشي.

## په ځینو محکمو کې د وکالت د حق نلرل

**درویشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د هغې محکمې په وړاندې چې خپله یا (مېرمن یا خاوند) یې د هغې له قاضیانو څخه له یوهٔ سره تر درېیمې درجې پورې نسبي یا سببي قرابت ولري، وکالت وکړي.

## په ځینو قضیو کې د وکالت حق نلرل

**څلېریشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د هغې قضیې چې د مخه یې د قاضي، څارنوال ، مستنطق،حکم یا اهل خبره په توګه څېړلې وي،وکالت وکړي.

## له عوایدو څخه خبر ورکول

**پنځه ویشتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن مکلف دی د قانون د حکمونو مطابق د خپلو عوایدو له تر لاسه کولو څخه په لیکلې توګه د مالیې وزارت ته خبر ورکړي.

مهرودفتر دارالوکاله و سایر امتیازات مسلکی شغل خویش را به شخص دیگر طور مؤقت یا دایمی انتقال بدهد اجرای امور اداری دارالوکاله از این حکم مستثنی است .

## موانع شهادت

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) وکیل مدافع بعد از عزل، استعفی و یا ختم وکالت نمی تواند در همین موضوع وکیل یا شاهد جانب مقابل گردد ، یابوی مشوره دهد .

(۲) وکیل مدافع درقضیه که دفاع مینماید یا درمورد آن مشورهٔ کتبی ارایهٔ نموده باشد،شاهد شده نمی تواند.

## نداشتن حق وکالت دربعضی محاکم

**مادهٔ بیست و سوم:**

وکیل مدافع نمی تواند درپیشگاه محکمیی که خود یا همسر وی بایکی ازقضات آن قرابت نسبی یا سببی تا درجهٔ سوم داشته باشد،وکالت نماید .

## نداشتن حق وکالت دربعضی قضایا

**مادهٔ بیست و چهارم:**

وکیل مدافع نمی تواند قضیی راکه قبلاًبه حیث قاضی ، څارنوال ، مستنطق، حکم یا اهل خبره بررسی نموده باشد،وکالت نماید.

## اطلاع از عواید

**مادهٔ بیست و پنجم:**

انجمن وکلای مدافع مکلف است طبق احکام قانون ازحصول عواید خویش کتباً به وزارت مالیه اطلاع دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دفترونو او پاڼو ترتیبول

**شپږویشتمه ماده:**

**مدافع وکیل مکلف دی د وکالت د چارو د اړتیا وړ دفترونه او پاڼې، د هغې نمونې مطابق چې د مدافع وکیلانو د انجمن لخوا تجویزیږي ترتیب کړي.**

## ترتیب دفاتر واوراق

**مادهٔ بیست و ششم :**

**وکیل مدافع مکلف است دفاترواوراق مورد ضرورت امور وکالت را ،مطابق نمونه یی که ازطرف انجمن وکلای مدافع تجویزمی گردد، ترتیب نماید .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

# تأديبي حکمونه

## د مدافع وکيل پرضد د رسېدلو شکايتونو څېړل

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) د دندې د سرته رسولو په نسبت له مدافع وکيل څخه د مؤکل يا اړوندو مراجعو هر ډول شکايت، د مدافع وکيلانو انجمن ته وړاندې کېږي.

(۲) که چېرې قضيه د تأديب وړ وګڼل شي، د مدافع و کيلانو له احوالو سره سم له لاندې تأديباتو څخه په يوې يې تصميم نيسي:

۱- توصيه.

۲- اخطار.

۳-تر يوهٔ کاله پورې د مدافع وکيل د فعاليت منع او د هغه د دفتر تړل.

۴- تر پنځو کلونو پورې د مدافع وکيلانو له فهرست څخه د وکيل حذفول.

(۳) تأديبي حکم وکيل ته په ليکلې توګه ابلاغېږي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې قضيه جنايي تشخيص شي ، د مدافع وکيلانو انجمن کولای شي هغه د عدلي تعقيب لپاره څارنوالۍ ته ارجاع کړي.

## له وکيل څخه د زيان د جبران غوښتنه

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) مدافع وکيل د قانوني دندو له حدودو څخه د تېري، په چارو کې د سهل انګاری او د نورو هغو اعمالو چې مؤکل ته د زيان سبب شي د ارتکاب په صورت کې، مسؤول پېژندل کېږي.

(۲) که چېرې مؤکل د مدافع وکيل د قصدي عمل له امله ، زيانمن شي، کولای شي د محکمې

# فصل چهارم

# احکام تأديبی

## بررسی شکايات وارده عليه وکيل مدافع

**مادهٔ بيست و هفتم:**

(۱)هرگونه شکايت مؤکل يا مراجع مربوط ازوکيل مدافع نسبت به اجرای وظيفه به انجمن وکلای مدافع اراهٔ مـی گردد.

(۲)هرگاه قضيه قابل تأديب تشخيص گردد،انجمن وکلای مدافع حسب احوال به يکی از تأديبات آتی تصميم اتخاذ می نمايد :

۱ – توصيه .

۲- اخطار.

۳- منع فعاليت وکيل مدافع و تعطيل دفتر آن الی يکسال.

۴- حذف وکيل مدافع از فهرست وکلای مدافع تا پنج سال .

(۳) حکم تأديبی برای وکيل به صورت کتبی ابلاغ مـی گردد.

(۴) درصورتی که قضيه جنايی تشخيص گردد ، انجمن وکلای مدافع می تواند آن راجهت تعقيب عدلی به څارنوالی ارجاع نمايد .

## مطالبهٔ جبران خساره ازوکيل

**مادهٔ بيست و هشتم:**

(۱) وکيل مدافع در صورت تجاوز از حدود وظايف قانونی ، سهل انگاری در امور وارتکاب ساير اعمالی که موجب ضرربه مؤکل گردد، مسؤول شناخته می شود.

(۲) هرگاه مؤکل بنابر عمل قصدی وکيل مدافع ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لارې د زیان د جبران غوښتنه وکړي.

## د بل شخص په واسطه د وکیل له نوم او امتیاز څخه د ګټې اخستلو ممنوعیت

**نهه ویشتمه ماده:**

که چېرې بل شخص د مدافع وکیل له نوم او امتیاز څخه ګټه واخلي، د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

متضرر گردد ، می تواند از طریق محکمه مطالبهٔ جبران خساره نماید .

## ممنوعیت استفاده از نام و امتیاز وکیل توسط شخص دیگر

**مادهٔ بیست ونهم:**

هرگاه شخص دیگری ازنام وامتیاز وکیل مدافع استفاده نماید ، طبق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرارمی گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

### د مدافع وکیلانو د انجمن د تمویل سرچينې

**دېرشمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن له لاندې سرچینو څخه تمويلېږي:

۱- د غړو حق العضويت.

۲- د دفاع وکالت له جواز څخه حق الامتياز.

۳- د اشخاصو او خيريه مراجعو مرستې.

۴- د خپرونو پلورل.

۵-د دولت مالي مرسته(مساعدت).

٦- د څېړنيزو او ښوونيزو پروګرامونو حق الاجرت.

۷- د نړيوالو مؤسسو مرسته.

۸- منقوله او غير منقوله شتمني.

### له شتمنۍ څخه ګټه اخستنه

**يو دېرشمه ماده:**

د مدافع وکیلانو د انجمن له شتمنۍ څخه يوازې د هغې د موخو د پلي کولو لپاره ګټه اخستل کېږي.

### د منقولو او غير منقولو مالونو ثبتول

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) د مدافع وکیلانو په انجمن پورې اړوند منقول او غير منقول مالونه ثبتېږي، کاپي يې د ماليې وزارت ته استول کېږي.

(۲) د مدافع وکیلانو د انجمن مؤسسين، د عمومي مجمع غړي، د اجرائيه هيئت غړي او نور کارکوونکي نشي کولای د انجمن منقول او غير منقول مالونه په خپل يا د خپلوانو په نوم و پېري او يا يې ثبت کړي .

# فصل پنجم

## احکام متفرقه

### منابع تمویل انجمن وکلای مدافع

**مادۀ سی ام :**

انجمن وکلای مدافع ازمنابع ذیل تمویل می گردد:

۱- حق العضويت اعضا .

۲- حق الامتياز ازجوازوکالت دفاع.

۳-کمکهای اشخاص ومراجع خيريه.

۴- فروش نشرات.

۵- مساعدت مالی دولت.

٦- حق الاجرت برنامه های تحقيقاتی و آموزشی .

۷-مساعدت مؤسسات بين المللی.

۸- دارایی منقول وغير منقول .

### استفاده ازدارائی

**مادۀ سی ويکم:**

دارایی انجمن وکلای مدافع صرف در جهت تحقق اهداف آن استفاده می شود .

### ثبت اموال منقول و غیر منقول

**مادۀ سی و دوم:**

(۱) اموال منقول و غير منقول مربوط به انجمن وکلای مدافع ثبت گرديده ، کاپی آن به وزارت ماليه ارسال می گردد .

(۲) مؤسسين ، اعضای مجمع عمومی ، اعضای هيئت اجرائيه وساير کارکنان انجمن وکلای مدافع نمی توانند اموال منقول و غيرمنقول انجمن را به نام خود ويا اقارب خويش خريداری ويا ثبت نمايند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مدافع وکیلانو د انجمن مکلفیتونه

**دري دېرشمه ماده :**

(۱) د مدافع وکیلانو انجمن مکلف دی چې د وکیل د مړینې په صورت کې بې له ځنډه د مؤکل اړوندې پاڼې او اسناد د هیئت تر نظرلاندې مؤکل ته تسلیم او سند واخلي.

(۲) په هغه صورت کې چې د مدافع وکیلانو څخه یو تن د وکالت له دندې څخه لرې شي، موضوع د مدافع وکیلانو د انجمن له خوا عدلي او قضائي ارگانونو ته خبر ورکول کېږي.

## د وکالت د جواز له اخستلو پرته د وکالت د حق لرل

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) په هغو مواردو کې چې د خپلوانو (پلار ، نیکه تر درییمې درجې پورې ، صلبي اولاد، مورتر دریيمې درجې پورې ، ورور، وراره، خور، خوریی، مېرهٔ، مېرمنې، عم او عمه، خاله، ماما او تر دوه یمې درجې پورې د هغوی د صلبي اولادونو، او خسر، اوښې او خواښې) یا شریکانوله حقوقو څخه د فاع مطرح وي، پدې صورت کې وکیل شخص د دفاع د وکالت د جواز په اخستلو مکلف ندی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی وکیل د شرعي وثیقې پر بنسټ ټاکل کېږي.

## د شرعي وثیقې په واسطه د مدافع وکیل ټاکل

**پنځه دېرشمه ماده:**

په حقوقي قضیو او د جزایي قضیو په حق‌العبدي برخه کې مدافع وکیل دشرعي و ثیقې په واسطه ټاکل کېږي.

په جزایي قضیو کې مظنون(شکمن) اشخاص، تورن یا د طفل قانوني ممثل کولای شي مدافع وکیل د شرعي وثیقې یا ددې قانون د منضمه فورم په ذریعه د پولیسو ، څارنوالی او محکمو په دفترونو کې و ټاکي.

## مکلفیت های انجمن وکلای مدافع

**مادهٔ سی و سوم:**

(۱) انجمن وکلای مدافع مکلف است در صورت فوت وکیل مدافع بدون تأخیر اوراق و اسناد مربوط به مؤکل را تحت نظر هیئتی به مؤکل تسلیم و سند اخذ نماید .

(۲) در صورتی که یک تن از وکلای مدافع از وظیفهٔ وکالت سبک دوش گردد موضوع توسط انجمن وکلای مدافع به ارگانهای عدلی و قضایی اطلاع داده می شود.

## داشتن حق وکالت بدون اخذ جواز وکالت

**مادهٔ سی چهارم :**

(۱) در مواردی که دفاع از حقوق خویشاوندان (پدر، پدرکلان تا درجه سوم ، اولاد صلبی ، مادر تا درجه سوم ، برادر ، برادرزاده ، خواهر، خواهرزاده، زوج ، زوجه ، عم و عمه ، خاله ، ماما و اولادهای صلبی شان تا درجهٔ دوم و خسر، خسر بره و خشو) یا شرکا مطرح باشد،دراین صورت شخص وکیل مکلف به اخذ جواز وکالت دفاع نمی باشد .

(۲) وکیل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس وثیقهٔ شرعی تعیین می گردد.

## تعیین وکیل مدافع توسط وثیقهٔ شرعی

**مادهٔ سی و پنجم :**

وکیل مدافع درقضایای حقوقی وبخش حق العبدی قضایای جزایی توسط وثیقهٔ شرعی تعیین میگردد.

درقضایای جزایی ، اشخاص مظنون ، متهم یا ممثل قانونی طفل میتوانند وکیل مدافع را ذریعهٔ وثیقهٔ شرعی یا فورم منضمهٔ این قانون در دفاتر پولیس، څارنوالی و محاکم تعیین نمایند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له حق الاجرت څخه د راپيدا شوې دعوي د اورېدو موده

**شپږ دېرشمه ماده:**

**د مؤکل او وکيل تر منځ د حق الاجرت له اختلاف څخه را پيدا شوې دعوي ، د وکالت له پايته رسېدو وروسته پس له يوهٔ کاله د اورېدو وړنده، مؤجه عذر لدې حکم څخه مستثنيٰ دی.**

## میعاد سمع دعوی ناشی ازحق الاجرت

**مادهٔ سی و ششم :**

**دعوای ناشی ازاختلاف حق الاجرت بین مؤکل و وکیل مدافع بعد از ختم وکالت پس از گذشت یک سال قابل سمع نمی باشد ، عذر مؤجه از این حکم مستثنی است .**

## د امنيت تأمين

**اووه دېرشمه ماده:**

**د کورنيو چارو وزارت او نور اړوند امنيتي مراجع مکلف دي د مدافع وکيلانو د انجمن د دفترونو د امنيت د تأمينولو او ساتنې لپاره لازم تدبيرونه و نيسي.**

## تأمین امنیت

**مادهٔ سی و هفتم :**

**وزارت امورداخله وسایرمراجع ذیربط امنیتی مکلف اند جهت تأمین امنیت وحفاظت دفاتر انجمن وکلای مدافع تدابیر لازم را اتخاذ نمایند .**

## د حقوقي شخصيت تثبيتېدل

**اته دېرشمه ماده:**

**د مدافع وکيلانو د انجمن حقوقي شخصيت هغه وخت تثبيتېږي چې اساسنامه يې له قانون سره سم ترتيب، د عمومي مجمع له خوا تصويب ، خپره او د عدليې په وزارت کې ثبت شي.**

## تثبیت شخصیت حقوقی

**مادهٔ سی و هشتم:**

**شخصیت حقوقی انجمن وکلای مدافع زمانی تثبیت می گردد که اساسنامهٔ آن مطابق قانون ترتیب ، از طرف مجمع عمومی تصویب ، نشر و در وزارت عدلیه ثبت شود.**

## د جواز ليک نوي کېدل

**نهه دېرشمه ماده:**

**هغه اشخاص چې ددې قانون له نافذېدو دمخه د دفاع د وکالت د شغل د جواز ليک لرونکي دي، د هغوی د فعاليت جواز ددې قانون او د مدافع وکيلانو د انجمن د اساسنامې د حکمونو له په پام کې نيولو سره، نوی کېږي.**

## تجدید جواز نامه

**مادهٔ سی و نهم:**

**اشخاصی که قبل از انفاذ این قانون حایز جوازنامهٔ شغل وکالت دفاع بوده اند، جواز فعالیت ایشان با رعایت احکام این قانون و اساسنامهٔ انجمن وکلای مدافع تجدید می گردد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وکالت د امتیاز د لېږد منع

**څلوېښتمه ماده:**

د دفاع وکالت امتیاز،د حقوقي اهلیت په زایلېدو،د شغل په پرېښودلو (ترک) یا سلب سره بل شخص ته د لېږدېدو وړ ندی.

## د مدافع وکیلانو د انجمن متقابله مرسته

**یو څلوېښتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن کولای شي په بهر کې له مماثلو انجمنونو سره متقابلې مرستې و لري.

## د خپرونې، نښان او مهر لرل

**دوه څلوېښتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن د خپرونې، نښان او مخصوص مهرلرونکی دی.

## د محکمې له حکم پرته د انجمن نه منحلیدل

**دري څلوېښتمه ماده :**

د مدافع وکیلانو انجمن د واکمنې محکمې له حکم څخه پرته نشي منحل کېدای.

## د انفاذ نېټه

**څلور څلوېښتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې له خپرېدو درې میاشتې وروسته نافذ او په نافذېدو سره یې د ١۴٢٠ هـ.ق کال په (٧٨٦) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د مدافع وکیلانو قانون له ضمیمو او تعدیلونو سره یې لغوه گڼل کېږي

## منع انتقال امتیاز وکالت

**مادۀ چهلم :**

امتیاز وکالت دفاع با زایل شدن اهلیت حقوقی ، ترک شغل یا سلب آن به شخص دیگری قابل انتقال نمی باشد .

## همکاری متقابل انجمن وکلای مدافع

**مادۀ چهل و یکم:**

انجمن وکلای مدافع می تواند با انجمن های مماثل درخارج همکاری متقابل داشته باشد.

## داشتن نشریه ، نشان ومهر

**مادۀ چهل و دوم :**

انجمن وکلای مدافع دارای نشریه ، نشان ومهر مخصوص می باشد.

## عدم انحلال انجمن بدون حکم محکمۀ ذیصلاح

**مادۀ چهل و سوم :**

انجمن وکلای مدافع بدون حکم محکمۀ ذیصلاح منحل شده نمی تواند.

## تاریخ انفاذ

**مادۀ چهل و چهارم :**

این قانون سه ماه بعد ازنشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن قانون وکلای مدافع منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (٧٨٦) سال ١۴٢٠ هـ. ق با ضمایم وتعدیلات آن ملغی شمرده میشود.

# جمهوری اسلامی افغانستان
## فورم تعین وکیل مدافع در قضایای جزائی

| شهرت موکل (مظنون و متهم یا ممثل قانونی طفل مظنون و متهم) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اسم | ولد | ولدیت | جنسیت | سکونت اصلی | سکونت فعلی | نمبر تذکره | نمبر تیلفون |
| | | | | | | | |

| شهرت وکیل | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اسم | ولد | ولدیت | جنسیت | سکونت اصلی | سکونت فعلی | نمبر تذکره | نمبر تیلفون | نمبر جواز |
| | | | | | | | | |

اینجانب ( ) که شهرتم در فوق ذکر است ، در حالیکه دارای اهلیت شـرعی قـانونی خود بوده و میباشیم ، محترم / محترمه ( ) را بحیث وکیل خود در مورد دفـع اتهـام وارده مبنی بر ( ) الی( ) در ( ) تعیین نمودم ، تا مطابق احکام قـانون از حقوق من ( ) در بدل مبلغ ( ) افغانی یا بدون عوض دفاع نماید .

اینجانب ( ) که شهرتم در فوق ذکر است ، در حالیکه دارای اهلیت شرعی قانونی خود بوده و میباشم، وکالت محترم / محترمه ( ) را در بدل مبلغ ( ) افغانی یا بدون عوض (طور رایگان) قبول نموده، تعهد می نمایم که الی طی مراحل ( ) با کمـال صـداقت ، امانـت داری و رعایت احکام قانون از حقوق موکل خود دفاع نمایم .

**شصت و امضاء موکل ( )**
تاریخ / / ۱۳

**تایید و تصدیق مراجع مربوط:**
پولیس ( ) خارنوالی ( )
محکمه ( )

**شصت و امضاء وکیل**
( )
تاریخ / / ۱۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدافع وکیلانو دخپلواکې ټولنې اساسنامه

## په ۷ / ۸ / ۱۳۸۷ نیټه کې د مجمع عمومي مصوبه

# ساسنامه انجمن مستقل وکلای مدافع

## مصوب مؤرخه ۷ / ۵ / ۱۳۸۷ مجمع عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل
# عمومي حکمونه

## بنسټ

**لومړۍ ماده:**

دغه اساسنامه ، دمدافع وکیلانو قانون د څلورمې مادې او د ټولنیزو سازمانونو قانون د څلورمی مادې د حکم له مخې ، دمدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د جوړښت،دندو،دفعالیت ډول، دغونډو جوړېدو، دغړو حقوقو او وجیبو او دهغو دسلوک په څرګندولو پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه، وضع شوېده.

## موخې

**دویمه ماده:**

د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه، دلاندې موخو د پلي کېدو لپاره فعالیت کوي:

۱- د اسلام د مقدس دین د احکامو تطبیق د قانون او عدالت له حاکمیت څخه ملاتړ.

۲- د بشر دحقوقوڅخه دفاع او دهر ډول جنسي، توکمیز، ژبني، رنګ، ټولنیز او قومي منشا، د شتمنی میزان اومعلولیت او هغو د بېلګو د تبعیض پر ضد مبارزه.

۳- په حقوقي او عدلي مراجعوکې داتباعو حقوقو او منل شویو ازادیو په پام کې نیول.

۴- د محکمو او د کشف او تحقیق په مراجعو کې د مناسبواو معیاري خدمتونو له لارې عدالت ته دلاس رسي د زمینې چمتو کول.

۵- هغو کسانوته چې د مدافع وکیلانو په قانون او دغه اساسنامه کې لیکل شوي شرطونه یې بشپړ کړي وي، د وکالت جواز ورکول .

٦- د ملي او نړیوالو معیارونو له په پام کې نیولو سره د

# فصل اول
# احکام عمومی

## مبنی

**مادۀ اول :**

این اساسنامه به تأسی از حکم مادۀ چهارم قانون وکلای مدافع ومادۀ چهارم قانون سازمانهای اجتماعی بمنظور تنظیم امور مربوط به تشکیل ،وظایف ، طرز فعالیت، تدویرجلسات ، حقوق ووجایب اعضای انجمن مستقل وکلای مدافع و توضیح سلوک آنها ، وضع گردیده است.

## اهداف

**مادۀ دوم :**

انجمن مستقل وکلای مدافع به منظور تحقق اهداف ذیل فعالیت می نماید:

۱ــ حمایت از تطبیق احکام دین مقدس اسلام وحاکمیت قانون و عدالت.

۲- دفاع از حقوق بشر و مبارزه علیه هر نوع تبعیض و امتیاز جنسی، نژادی، زبانی،رنگ، منشاء اجتماعی و قومی ،میزان دارایی ،معلولیت و امثال آن.

۳- رعایت حقوق و آزادی های شناخته شدۀ اتباع در مراجع حقوقی وعدلی.

۴- مساعد ساختن زمینۀ دسترسی به عدالت در محاکم و مراجع کشف و تحقیق از طریق عرضۀ خدمات حقوقی مناسب و معیاری.

۵- توزیع جواز وکالت دفاع به اشخاصی که شرایط مندرج قانون وکلای مدافع و این اساسنامه را تکمیل نموده باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدافع وکیلانو د مسلکي پوهې دکچې د لوړولو لپاره د کورسونو جوړول او د اغیزمنو پروګرامونوپلي کول.

۷- دمدافع وکیلانو دخپلواکتوب او دهغوی دصنفي ګټو ساتل او دفاع .

۸- د غړو لخوا د اخلاقي او مسلکي معیارونو په پام کې نیول او له موکلینو سره وړ چلند ته دهغو هڅول.

۹- دمسلکي حیثیت او وقار ساتلو، د مؤکلینو د باورجلبولو او له هر ډول اداري فساد سره د مبارزې په خاطر، دمدافع وکیلانو هڅول.

۱۰- متقا ضیانو ته په جزائي،مدني او تجارتي مو ضوع ګانوکې دحقوقي خدمتونو چمتو کول.

۱۱- دمدافع وکیلانو پر مسلکي فعالیت بانديې څارنه .

۱۲- دمدافع وکیلانو د فعالیت سمون او دهغوی دحقوقو څخه ملاتړ او دفا ع.

۱۳- د قانون د احکامو مطابق بیوزلو مظنونینو او تورنو ته د وړیا حقوقي خدمتونو تأمینول.

۱۴- دمختلفو طریقو او وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره دعامه پوهاوي لپاره هڅه کول.

۱۵- د انجمن او نورو اړوندو کشفي، عدلي او قضایي مراجعو کې تر منځ ګډه کوشش کول.

## خپلواکتوب

دریيمه ماده :

دافغانستان دمدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه، خپلواکه، غیر دولتي ، غیر سیاسي بنسټ دی، دمدافع وکیلانو دممثل په توګه ، داساسي قانون، دمدافع وکیلانو د قانون او نورو تقنیني سندونو دحکمونو سره سم،پدې اساسنامه کې د لیکل شویو موخو د پلي کیدو په لاره کې، فعالیت کوي.

٦ــ ایجاد کورس های آموزشی و تطبیق پروگرامهای مؤثر جهت ارتقای سطح دانش مسلکی وکلای مدافع با رعایت معیار های ملی و بین المللی.

۷ــ حفظ ودفاع از استقلالیت وکلای مدافع و منافع صنفی آنها.

۸ــ رعایت معیار های اخلاقی ومسلکی از طرف اعضا وتشویق آنها به رفتار مناسب با مؤکلین.

۹ ــ تشویق وکلای مدافع به خاطر حفظ حیثیت ووقار مسلکی ،جلب اعتماد مؤکلین ومبارزه با هر نوع فساد اداری.

۱۰ــ مساعد ساختن زمینۀ خدمات حقوقی برای متقاضیان در موضوعات جزایی، مدنی، و تجارتی .

۱۱ــ نظارت بر فعالیت مسلکی وکلای مدافع.

۱۲ــ انسجام فعالیت وکلای مدافع، حمایت و دفاع از حقوق آنها.

۱۳ــ تأمین خدمات حقوقی رایگان به مظنونین ومتهمین بی بضاعت مطابق احکام قانون.

۱۴. تلاش جهت ارائۀ آگاهی حقوقی عامه با استفاده از طرق و وسایل مختلف.

۱۵. تشریک مساعی میان انجمن و سایر مراجع کشفی عدلی و قضایی.

## استقلالیت

مادۀ سوم:

انجمن مستقل و کلای مدافع افغانستان نهاد مستقل ، غیر دولتی وغیر سیاسی بوده ، منحیث ممثل وکلای مدافع در راه تحقق اهداف مندرج این اساسنامه، مطابق احکام قانون اساسی ، قانون وکلای مدافع وسایر اسناد تقنینی فعالیت می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفعالیت مرکز

**څلورمه مادهٔ :**

**دمدافع وکیلانو دخپلواکې ټولنې دفعالیت مرکز د کابل په ښارکې دی او د هغې نورې څانګې په نورو ولایتونو کـــې جوړیدلای شي.**

## لنډ نوم

**پنځمه ماده :**

**دمدافع وکیلانو ټولنه تر دې وروسته په دې اساسنامه کې د ټولنې په نوم یادیږي.**

## مرکز فعالیت

**مادهٔ چهارم :**

**دفتر مرکزی انجمن مستقل وکلای مدافع درشهر کابـــل بوده ونمایندگی های آن در سایر ولایات ایجاد شده مـــی تواند.**

## نام اختصاری

**مادهٔ پنجم :**

**انجمن مستقل وکلای مدافع من بعد در این اساسنامه به نام انجمن یاد می گردد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دو یم فصل

## تشکیل، دندې او واکونه

### تشکیل

شپږمه ماده:

ټولنه، د عمومي مجمع، رهبري شورى،اجرائيه پلاوي او د څارنې پلاوي او کمېټو لرونکې ده .

### عمومي مجمع

اوومه ماده :

عمومي مجمع، د ټولنې د تصميم نيولــو تــر ټولــو لــوړه مرجع ده او د رهبري له شورى، اجرائيه پــلاوي،د څــارنې پلاوي، د ټاکنو او د ښوونو د کميټو او غړو څخه جوړه ده.

### دعمومي مجمع واکونه

اتمه ماده:

عمومي مجمع د لاندې واکونو لرونکې ده:

۱- درهبري شورى، اجرائيوي آمر،د څارنې پــلاوي او د غړو ټاکل او عزل.

۲- دټولنې دپاليسي اود فعاليت د بنسټيزو لوريو ټاکــل اوتثبيتول .

۳- د مدافع وکيلانو د قانون د تعديل وړانديز.

۴- داساسنامې تصويب يا تعديل.

۵- دټولنې کلنۍ رپوټ اوريدل

٦- د نورو تصميمونو نيول.

### رهبري شورى

نهمه ماده:

(۱)د رهبرى شورى له عمومي مجمع وروسته ، د ټولنې تر ټولو واکمنه مرجع ده او د اجرائيه پلاوي په ګډون (۱۵) غړي لري.

# فصل دوم

## تشکیل ، وظایف وصلاحیت ها

### تشکیل

مادۀ ششم:

انجمن دارای مجمع عمومی ، شورای رهبــری ، هیئــت اجرائیه ، هیئت نظارت، و کمیته ها می باشد.

### مجمع عمومی

ماده هفتم :

مجمع عمومی عالی ترین مرجع تصمیم گیری انجمن بوده ومتشکل ازاعضای شورای رهبری ، هیئت اجرائیه ، هیئت نظارت ، کمیته هــای انتخابــات و تعلیمــات و اعضــا می باشد.

### صلاحیت مجمع عمومی

مادۀ هشتم:

مجمع عمومی دارای صلاحیت های ذیل میباشد:

۱ ــ انتخاب وعزل اعضــای شــورای رهبــری ، آمــر اجرایوي، هیئت نظارت.

۲ ــ تعیین و تثبیت پالیسی و جهات اساسی فعالیت انجمن.

۳- پیشنهاد طرح تعدیل قانون وکلای مدافع .

۴ – تصویب یاتعدیل اساسنامه.

۵ – استماع گزارش سالانه فعالیت های انجمن.

٦ – اتخاذ سایر تصامیم.

### شورای رهبری

مادۀ نهم :

(۱) شورای رهبری بعد از مجمع عمومی عــالی تــرین مرجع ذی صلاح انجمن بوده و به شمول هیئت اجرائیــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د رهبري شورى د(۱۵) غړو له ډلې څخه لږ ترلږه د هغې درى تنه غړي د ښځينه مدافع وكيلانو له منځ څخه ټاكل كيږى.

(۳) هغه شخص درهبري شورى دغړي په توګه ټاكل كيداى شي چې دلاندې صفاتو او مشخصاتو لرونكي وى:

۱– يوازې د افغانستان د تابعيت لرونكى وي.

۲– د هېواد د ننه د حقوقو او شرعياتو له پوهنځيو او يا د هغه پورته له بهر څخه د لوړو تحصيلاتو د فراغت د سند لرونكو مدافع وكيلانو لپاره لږتر لږه د درې كلونو د كاري مسلكي تجربې لرل .

۳– د هيواد دننه د رسمي ديني مدارسو يا د هيواد د ننه ياله بهر څخه دهغه معادل دفراغت سند لروونكو مدافع وكيلانولپاره لږ ترلږه د پنځو كلونو د كاري مسلكي تجربې لرل.

۴– دنيک شهرت لرل.

## درهبري شوري واكونه

لسمه ماده:

د رهبـــري شـــورى د لانـــدې دنـــدو او واكونـــو لرونكى دى:

۱– د بودجې دسازمان وركولو، له تطبيق څارنـــه او د عمومي مجمع دتصميمونو ترسره كول.

۲– داجرائيه هيئت درپوټ اوريدل او ارزول .

۳– دپلان ،اداري تشكيل او د كلنۍ بودجې تصويبول .

۴– عمومي مجمع ته د رپوټ وړاندې كول .

۵– دټاكنو او ښوونو دكميټو د رئيسانو او غړو ټاكـــل او عزل.

٦– له نورو مماثلو ټولنو او دولتي ادارو سره، د ټـــولنې داړيكو دتنظيم په هكله دتصميم نيول .

۷– ددې اساسنامې د حكمونو سره سم ، د ټولنې د فوق العاده غونډو جوړول .

۸– د غړيتوب او دحق الامتياز د اندازې تصويب.

دارای (۱۵) عضو می باشد .

(۲) از جملهٔ ۱۵ عضو شورای رهبری حد اقل سه عضو آن از میان وکلای مدافع طبقهٔ اناث انتخاب می گردند.

(۳) شخصی به صفت عضو شورای رهبری کاندید شده می تواند که دارای صفات و مشخصات ذیل باشد:

۱– تنها حامل تابعیت افغانستان باشد.

۲– داشتن تجربهٔ کاری مسلکی حد اقل سه سال بـــرای وکلای مدافع حایز سند فراغت از پوهنځی های حقوق و علوم سیاسی یا شرعیات یا بالاتر از آن از داخل و یا خارج کشور.

۳– داشتن تجربهٔ کاری مسلکی حد اقل پنج سال بـــرای وکلای مدافع حایز سند فراغت از مدارس دینی رســـمی کشور یا معادل آن از داخل و یا خارج کشور.

۴– داشتن شهرت نیک.

## صلاحیت های شورای رهبری

مادهٔ دهم:

شورای رهبری دارای وظایف وصـــلاحیت هـــای ذیـــل می باشد:

۱ــ سازماندهی ،نظارت ازتطبیق بودجه و اجرای تصامیم مجمع عمومی.

۲ــ استماع و ارزیابی گزارش هیئت اجرائیه.

۳ــ تصویب پلان ، تشکیل اداری و بودجه سالانه.

۴ ــ ارائهٔ گزارش به مجمع عمومی.

۵ ــ انتخاب و عزل روسا و اعضای کمیته های انتخابات و تعلیمات.

٦ــ اتخاذ تصمیم در مورد تنظیم روابط انجمن با ســـایر انجمن های مماثل و ادارات دولتی .

۷–برگزاری جلسات فوق العادهٔ انجمن مطابق احکام این اساسنامه.

۸–تصویب اندازهٔ حق العضویت و حق الامتیاز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اجرائیه پلاوی

**یوولسمه ماده:**

اجرائیه پلاوی د ټولنې یو فعال ارگان دي ، دټـولنې لـه عمومي رئیس مرستیالانو ، مالي مسؤول او اجرائیوی آمر چې د ټولنې ټولې اجرائیو ي چارې دمدافع وکیلانود قانون او دغې اساسنامې دحکمونوسره سم، رهبري او اداره کوي ، څخه جوړ دی .

## د اجرائیه پلاوي دندې او واکونه

**دوولسمه ماده :**

اجرائیه پلاوی د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- دټولنې د چارو رهبري ، اداره او تنظیمول .

۲- دټولنې کاري پلانونو، پالیسي تطبیـق او د موخـو تامینول

۳- د بودجې پلې کول او دمالي لگښتونو څارل.

۴- د عمومي مجمع او رهبري شوري د تصمیمونو پلـې کول او تعمیلول.

۵- رهبري شوری ته د فعالیت د رپوټ ورکول.

## د څارنې پلاوی

**د یارلسمه ماده :**

(۱) د څارنې پلاوی له پنځو غړو څخه جوړ دی چـې د عمـومي مجمـع لخـوا د دوو کلونـو لپـاره ټاکل کېږي.

رئیس د غړو له منځه او پخپله د هغوي لخوا ټاکل کیږي.

(۲) د څارنې پلاوي د پنځو غړو له جملې څخه لږ ترلږه د هغه یو غړی د ښځینه مدافع وکیلانو له منځ څخه ټاکـل کېږي

## هیئت اجرائیه

**مادهٔ یازدهم:**

هیئت اجرائیه ارگان دایماً فعال انجمن بوده مرکب است از رئیس عمومی انجمن، معاونـان ، آمـر اجرایـوی، و مسؤول مالی که تمام امور اجرایوی انجمـن را مطـابق احکام قانون وکلای مدافع و این اساسنامه رهبری واداره می نمایند.

## وظایف وصلاحیت های هیئت اجرائیه

**مادهٔ دوازدهم:**

هیئت اجرائیه دارای وظایف و صلاحیت های ذیل مـی باشد:

۱ــ رهبری اداره و تنظیم امور انجمن.

۲ــ تطبیق پلان های کاری ،پالیسی وتأمین اهداف انجمن.

۳- تطبیق بودجه و مراقبت از مصارف مالی.

۴ ــ تطبیق و تعمیل تصامیم مجمع عمـومی وشـورای رهبری.

۵- ارائـهٔ گـزارش فعالیـت بـه شـورای رهبـری.

## هیئت نظارت

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) هیئت نظارت متشکل از پنج عضومی باشـد کـه از طـرف مجمـع عمـومی بـرای دو سـال انتخـاب می شوند.

رئیس از میـان اعضاءوتوسـط خـود آنهـا انتخـاب می شود.

(۲) ازجملهٔ پنج عضو هیت نظارت، حد اقل یک عضو آن از میان وکلای مدافع طبقهٔ اناث انتخاب می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څارنې پلاوی دندې او واکونه

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د څارنې پلاوی لاندې دندې او واکونه لري:

۱- دعمومي مجمع او رهبري شورى د تصميمونو دپلي کيدو څخه څارنه.

۲- ددې اساسنامې د حکمونو د پلي کيدو او په پام کې نيولو څخه څارنه.

۳- د ټولنې د غړو د شکايتونو ته رسيدگی کول.

۴- دټولنې پرمالي چارو باندي څارنه.

۵- د متخلفو او سرغړونکو مدافع وکيلانوتاديبول

(۲) د څارنې د پلاوي کړنلاره دعمومي مجمع لخوا تصويبېږي.

## دټاکنو کميټه

**پنځلسمه ماده:**

(۱) دټاکنو د دايريدو څخه يوه مياشت مخکې دټا کنو د جوړيدو په موخه، دټاکنو کميټه چې د پنځوغړو څخه جوړه وي د رهبري شورى له خوا ټاکل کيږي.

(۲) د ټاکنو کميټې د پنځو غړو له ډلې څخه لږ تر لږه يوه غړې د ښځينه مدافع وکيلانو له منځ څخه ټاکل کيږي.

(۳) دټاکنو د کميټې رئيس دغړو له منځه ټاکل کېږي او په کميټې پورې اړونده چارې رهبري او تنظيموي.

(۴)د ټاکنو کميټه د سالمو ټاکنو د جوړيدو په موخه کولای شي ملي اونړيوال خپلواک کتوونکي راوبولي.

(۵)د ټاکنو کميټه د ټاکنو اړونده چارې د هغې کړنلارې سره سم چې د ټولنې لخوا وضع شوېدي تنظيموي.

(٦)د ټاکنو دکميټې کړنلاره د رهبري شورى لخوا تصويبېږي.

(۷)د ټاکنو کميټه د ټاکنو د پايته رسيدو له بهير څخه وروسته منحل کېږي.

## وظايف و صلاحيت های هيئت نظارت

**مادهٔ چهاردهم:**

(۱) هيئت نظارت دارای وظايف وصلاحيت های ذيل می باشد:

۱ ــ نظارت از تطبيق تصاميم مجمع عمومی وشورای رهبری .

۲ ــ نظارت از تطبيق ورعايت احکام اين اساسنامه.

۳ ــ رسيدگی به شکايات اعضای انجمن.

۴ ــ نظارت بر امور مالی انجمن.

۵- تأديب وکلای مدافع متخلف و خاطی.

(۲) طرزالعمل هيئت نظارت از طرف مجمع عمومی تصويب می گردد.

## کميتهٔ انتخابات

**ماده پانزدهم:**

(۱) به منظور بر گزاری انتخابات ، يک ماه قبل از تدوير انتخابات، کميتهٔ انتخابات که متشکل از پنج عضو می باشد از طرف شورای رهبری انتخاب می گردد.

(۲) از جمله پنج عضو کميتهٔ انتخابات، حد اقل يک عضو آن از ميان وکلای مدافع طبقه اناث انتخاب می گردد.

(۳) رئيس کميته انتخابات از ميان اعضا، انتخاب و امور مربوط به کميتهٔ را رهبری و تنظيم می نمايد.

(۴) به منظوربرگزاری انتخابات سالم کميتهٔ انتخابات می تواند ازناظرين مستقل ملی و بين المللی دعوت نمايد.

(۵) کميتهٔ انتخابات امورمربوط به انتخابات را طبق طرزالعمل وضع شده از طرف انجمن تنظيم می نمايد.

(٦) طرزالعمل مربوط به کميتهٔ انتخابات ازطرف شورای رهبری تصويب می گردد.

(۷) کميتهٔ انتخابات بعد از اختتام پروسهٔ انتخابات منحل می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښوونوکمیټه

**شپاړسمه ماده:**

**(۱) د زدکړو د چارو دتنظیم اود آزموینو داخیستلو په موخه،دښوونوکمیټه د پنځو غړو په ترکیب چې د هغه په سر کې بې د انجمن رئیس قرار لري د رهبري شوري لخوا د یو کال لپاره ټاکل کېږي:**

**(۲) د ښوونو کمیټه ،د عمومي ښوونو پروګرامونه تنظیموي او په کورسونوکې د شاملیدو شرطونه، د جلا کړنلارې سره سم، څرګندوي.**

**(۳) د ښوونو دکمیټې کړنلاره ، درهبري شوری لخوا تصویبېږي .**

## فرعي کمیټې

**اووه لسمه ماده :**

**رهبری شوري کولی شي ، د اړتیا په صورت کې فرعي کمیټې جوړې کړي.**

## کمیتهٔ تعلیمات

**مادهٔ شانزدهم:**

**(۱) به منظورتنظیم امور آموزش واخذ امتحانات، کمیتهٔ یی مرکب از پنج عضو که در رأس آن رئیس انجمن قرار دارد از طرف شورای رهبری برای مدت یک سال انتخاب می گردد.**

**(۲)کمیتهٔ تعلیمات پروگرام های تعلیمات عمومی راتنظیم وشرایط شمولیت به کورس هاراطبق طرز العمل جداگانه، مشخص میسازد.**

**(۳) طرزالعمل کمیتهٔ تعلیمات از طرف شورای رهبری تصویب می گردد.**

## کمیته های فرعی

**ماده هفدهم:**

**شورای رهبری می تواند، درصورت ضرورت کمیته هایی فرعی را ایجاد نماید.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## دټولنې د اجرائیه پلاوي د ټاکل کیدو ډول، واک او دندې

### د ټولنې عمومي رئیس

اتلسمه ماده :

دټولنې عمومي رئـیس دعمــومي مجمــع لخــوا ، ددې اساسنامې سره سم،د دریوکلونو مودې لپاره ټاکل کیږي .

### د ټولنې د عمومي رئیس دندې او واکونه

نوولسمه ماده:

دټولنې رئیس د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی :

۱– دعمومي مجمع له کلنیو غونډو څخه ریاست.

۲– درهبرۍ دشورى او اجرا ئیه پلاوي له غونډو څخه ریاست .

۳– دښوونو کمیټې په غونډو کې ګډون .

۴– د کارکوونکو د تقرر او عزل منظورول.

۵– رهبرۍ شورى او عمومي مجمع ته دکلنـــي رپـــوټ وړاندې کول .

٦– د لزوم په صورت کې د رهبرۍ دشورى د فوق العاده غونډې رابلل.

### دټولنې مرستیال

شلمه ماده :

(۱) ټولنه دوه مرستیالان لري، چــې ددې اساســنامې د حکمونوسره سم د دووکلونو مودې لپاره ، دعمومي مجمع لخوا ټاکل کیږي .

(۲) د دوو معاونینو له جملې څخه یو معــاون د ښــځینه مدافع وکیلانو له منځ څخه ټاکل کېږي.

(۳) درئیس په نه شتون کې، مرستیالان دهغهٔ دندې، د دې

# فصل سوم

## طرز انتخاب، صلاحیت ووظایف هیئت اجرائیۀ انجمن

### رئیس عمومی انجمن

مادۀ هژدهم :

رئیس عمومی انجمن از طرف مجمع عمومی مطابق ایـــن اساسنامه برای مدت سه سال انتخاب می گردد.

### وظایف وصلاحیت های رئیس عمومی انجمن

مادۀ نزدهم:

رئیس انجمن دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد :

۱– ریاست از جلسات سالانه مجمع عمومی .

۲– ریاســـت از جلســـات شـــورای رهبـــری وهیئـــت اجرائیه .

۳– اشتراک در جلسات کمیتۀ تعلیمات.

۴– منظوری تقرر و عزل کارکنان انجمن.

۵– ارائۀ گزارش سالانه به شورای رهبری ومجمع عمومی

٦– دعوت اجلاس فوق العادۀ شورای رهبری در صورت لزوم.

### معاونان انجمن

ماده بیستم:

(۱)انجمن دارای دو معاون می باشد که مطابق احکام این اساسنامه برای مدت دو سال از طرف مجمـــع عمـــومی انتخاب می شوند.

(۲) از جمله دو معاون، یک معاون آن از میان وکـــلای مدافع طبقۀ اناث انتخاب می گردد

(۳) در غیاب رئیس ، معاونان وظایف وی را مطابق احکام

اساسنامې دحکمونو سره سم، سرته رسوي .

(۴) د مرستیالانو د دندو او واکونو حدود، دټولنې درئیس لخوا ټاکل کیږي .

(۵) د ټولنې مرستیالان مکلف دي، د دندې سرته رسولوپه وخت کې،دټولنې د رئیس ملاتړ او مرسته وکړي.

## مالي مسؤول

یوویشتمه ماده :

(۱) ټولنه مالي مسؤول لري چی د عمومي مجمع لخوا ، ددې اساسنامې دحکمونو سره سم ، د دووکلنو مودې لپاره ټاکل کیږي .

(۲) هغه کس د مالي مسؤل په توګه ټاکل کیدای شي، چې په مالي او اداري چارو کې بشپړه پوهې او پوره معلوماتو لرونکی وي.

(۳ )مالي مسؤول دلاندې دندو په سرته رسولو مکلف دی:

۱- دټولنې په بانکي حساب کې د ټولنې دعوایدو تحویلول.

۲- د داسې سیستم جوړول چې دټولنې غړي وکولای شي، د خپلو کلنیو عوایدو رپوټ ، ټولنې ته وړاندې کړي.

۳- دټولنې د لیږدونکو مالونو ثبتول .

۴- دټولنې دمالي سندونو ساتل.

۵- مالیې وزارت ته دټولنې دعوایدو څلور میاشتنۍ رپوټ وړاندې کول.

## اجرائیوي امر

دوه ویشتمه ماده :

(۱) ټولنه اجرائیوی آمر لري، چې دعمومي مجمع لخوا د دووکلونو مودې لپاره ټاکل کیږي.

(۲) اجرائیوي آمر کیدلای شي، د دویم ځل لپاره وټاکل شي.

## داجرائیه امر دندې او واکونه

درویشتمه ماده :

اجرائیوي آمر د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- دټولنې دپالیسو او فعالیتونو اداره او پلي کول .

این اساسنامه انجام می دهند.

(۴)حدود وظایف و صلاحیت های معاونان از طرف رئیس انجمن تعیین می گردد.

(۵) معاونان انجمن مکلف اند حین اجرای وظیفه، رئیس انجمن را حمایت و معاونت نمایند.

## مسؤول مالی

مادهٔ بیست ویکم:

(۱) انجمن دارای مسؤول مالی می باشد که از طرف مجمع عمومی مطابق احکام این اساسنامه برای مدت دو سال انتخاب می شود.

(۲) شخصی به صفت مسؤول مالی تعیین شده میتواند که در امور مالی و حسابی دارای دانش و معلومات کافی باشد.

(3) مسؤول مالی مکلف به اجرای وظایف ذیل می باشد:

۱ــ تحویل عواید انجمن در حساب بانکی انجمن .

۲ــ ایجاد سیستمی که اعضای انجمن بتوانند گزارش عواید سالانه خودرا به انجمن ارائه نمایند.

۳ ــ راجستر نمودن اموال منقول انجمن .

۴ ــ حفظ اسناد مالی انجمن .

۵ ــ ارائهٔ گزارش ربعوارعواید انجمن به وزارت مالیه.

## آمر اجرایوی

ماده بیست و دوم:

(۱) انجمن دارای آمر اجرایوی بوده که از طرف مجمع عمومی برای مدت دو سال انتخاب می شود.

(۲) آمر اجرائیوی میتواند برای بار دوم انتخاب گردد.

## وظایف وصلاحیت های آمر اجرایوی

ماده بیست وسوم:

آمر اجرایوی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱ــ اداره وتطبیق پالیسی ها و فعالیت های انجمن.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- دټولنې د اداري چارو اداره او کنترول .

۳- دمرکزي دفتر د ورځنیوچارو اداره او له اړوندو ادارو څخه څارنه.

۴- د کارکوونکو له اجراآتو څخه څارنه.

۵- درهبرۍ شورى په غونډو کې ګډون.

٦- دعمومي مجمع او رهبرۍ شورى د غونډو اجنـــداء چمتو کول .

۷- د ټولنې د کلنیو، عادي او فـــوق العـــاده غونــډو د جوړېدو د نیټې اوځای څخه خبر ورکول.

۸- دټولنې دسندونو برابرول او تنظیم .

۹- دعمومي مجمع او رهبرۍ شورى دمصوبو ثبتول .

۱۰- درایې ورکونکو لست او د کاندیدانولست برابرول او ترتیب.

۱۱- د رپوټ برابرول او دټولنې رئیس ته دهغه وړاندې کول .

۱۲- د نورو هغو دندو سرته رسول چې د اجرائیه پلاوي لخوا هغه ته سپارل کیږي.

## د دندو پرمخبیول

**خلورویشتمه ماده :**

دټولنې رئیس او ټاکل شوي غړي داړونـــدو چـــارو پـــه پرمخبیولو کې د ځانګړې مســؤولیت او پـــه عمــومي تصمیمونو او اجراآتو کې دټولیز مسؤولیت لرونکي دي .

## د رایې ورکولو ډول

**پنځه ویشتمه ماده :**

په ټولو ټاکنیزو برخو کې رایه ورکول، په آزاده، سري او مستقیمه توګه صورت مومي، په ټاکنو کې هر غړی د یوې رایې حق لري .

۲ـــ اداره و کنترو ل امور اداری انجمن.

۳ـــ ادارۀ امور یومیۀ دفتر مرکزی و نظـــارت از ادارات مربوط .

۴- نظارت براجراآت کارکنان .

۵- اشتراک در جلسات شورای رهبری .

٦- تهیۀ اجندای جلسات مجمع عمومی وشورای رهبری.

۷- به اطلاع رسا نیدن تاریخ برگزاری جلسات وموقعیت جلسات سالانه ،عادی و فوق العادۀ انجمن.

۸- تهیه و تنظیم اسناد انجمن .

۹- ثبت مصوبات مجمع عمومی و شورای رهبری.

۱۰- تهیه و ترتیب لست رآی دهندگان و لست کاندیدها.

۱۱- تهیه نمودن گزارش و تقدیم آن به رئیس انجمن.

۱۲- اجرای سایر وظایفی که از طرف هیئت اجرائیه بـــه وی سپرده می شود.

## پیشبرد وظایف

**مادۀ بیست و چهارم:**

رئیس و اعضای انتخابی انجمن در پیشبرد وظایف مربوط دارای مسوولیت فردی و در تصامیم و اجراآت عمـــومی انجمن دارای مسؤولیت جمعی می باشند .

## طرزرأی دهی

**ماده بیست و پنجم:**

رای دهی در تمام سطوح انتخابی به شکل آزاد، سری و مستقیم صورت گرفته ، هر عضو در انتخابات دارای حق یک رأی می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

# دغونډود جوړېدو ډول

## دعمومي مجمع جوړېدل

شپږویشتمه ماده:

(۱) دعمومي مجمع عادي غونډې ، په کال کې یوځـــل جوړېږي.

(۲) فوق العاده غونډې، دغړو دیوۀ پر درې (۱/۳) پـــه وړاندیزیا درهبری دشوری پـــه تصـــویب، هـــر وخـــت جوړېدلای شي.

(۳) اجرائیوي آمر مکلف دی، دعمومي مجمع دغونډو له جوړېدو دوه اونۍ دمخه، غړي په جریان کې واچوي .

(۴) دعمومي مجمع دغونډواجنداء، داجرائیه آمر لخـــوا ترتیب او د غړو په واک ورکول کیږي.

(۵) که چیرې غړي وغواړي ځینې موضوعگانې په غونډه کې مطرح کړي، مکلف دي، د غونډې له جوړېدو څخه لږترلږۀ درې ورځې دمخه، هغه اجرائیوي آمر ته وسپاري.

## دعمومي مجمع دغونډې د جوړېدو نصاب

اووه ویشتمه ماده:

(۱) دعمومي مجمع دغونډو د جوړېدو نصاب، دهغـــو د غړو ټول اکثریت حضور دی .

(۲) دعمومي مجمع په غونډو کې تصمیمونه، په غونډه کې د حاضرو غړو په مطلق اکثریت (۵۰+۱) سره نیول کیږي د تساوۍ په صورت کې هغه لورۍ معتبر گڼل کیږي چې رئیس هغه ته رایه ورکړې وي.

(۳) د ټولنې په غونډو کې، هر غړی ، دیوې رایـــې حـــق لري.

# فصل چهارم

# طرز تدویر جلسات

## جلسات مجمع عمومی

مادۀ بیست و ششم:

(۱)جلسات عادی مجمع عمومی سال یک بار دایر می گردد.

(۲) جلسات فوق العاده به پیشنهاد یک ثلث اعضاء یـــا تصویب شورای رهبری هر وقت دایرشده می تواند.

(۳) آمر اجرایوی مکلف است دوهفتـــه قبـــل از تـــدویر جلسات مجمع عمومی اعضا را در جریان قرار دهد.

(۴)اجندای جلسات مجمع عمومی از طرف آمر اجرایـــه ترتیب و در اختیار اعضا ء قرارداده میشود.

(۵) هرگـــاه اعضـــا بخواهنـــد موضـــوعاتی را ،در جلسه مطـــرح نماینـــد مکلـــف انـــد حـــد اقـــل ســـه روز قبل از تدویر جلسه ،آن را به آمر اجرایوی بسپارند.

## نصاب تدویر جلسات مجمع عمومی

مادۀ بیست و هفتم:

(۱) نصاب تدویر جلسات مجمع عمومی حضور اکثریت کل اعضای آن می باشد .

(۲) تصامیم در جلسات مجمع عمومی به اکثریت مطلق (۵۰+۱) اعضای حاضر جلسه اتخـــاذ مـــی گـــردد در صورت تساوي آرا رأی طرفی معتبر دانسته مي شود کـــه رئیس به آن،رأی داده باشد.

(۳) هر عضو انجمن در جلسات حق یک رأی را دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رهبرۍ دشوری غونډې

**اته ویشتمه ماده :**

**(۱)د رهبرۍ شوری غونډې، په هرو دریو میاشتو کې یو ځل جوړیږي .**

**(۲) درهبرۍ شوری د غونډو د جوړیدو نصاب، داکثریت غړو حضُور دی.**

**(۳) په غونډو کې تصمیمونه، په غونډه کې د حاضرو غړو په اکثریت نیول کیږي .**

**(۴) درهبرۍ شوری غونډې، د ټولنې په ودانۍ کې جوړیږي.**

**(۵) د رهبرۍ شوری دغونډو اجنداء، د اجرائیوي آمر لخوا ترتیب او له جوړیدو څخه لږ تر لږه یوه اونۍ مخکې، غړو ته خبر ورکول کیږي.**

**(٦) رهبري شوری کولای شي، دغونډو د تنظیم او جوړیدو په موخه ، جلا کړنلاره ترتیب کړي.**

## داجرائیه پلاوي غونډې

**نهه ویشتمه ماده:**

**(۱) داجرائیه پلاوي دغونډو نصاب ،(د ټولنې رئیس یا د رئیس مرستیال ) په شمول، د دریو غړو په حضوربشپړ کیږي.**

**(۲)داجرائیه هیئت غونډې ، لږ تر لږه په هره اونۍ کې ، یوځل جوړیږي.**

**(۳) داجرائیه هیئت غونډې ، درئیس په واسطه او دهغهٔ په غیاب کې دهغهٔ دمرستیال په واسطهٔ ، جوړیږي.**

**(۴) داجرائیه هیئت غونډې ، دانجمن په مقر کې جوړیږي**

**(۵) ټولنه کولای شي، داجرائیه هیئت دغونډو د تنظیم او جوړیدو په منظور، جلا کړنلاره وضع کړي.**

## جلسات شورای رهبری

**مادهٔ بیست و هشتم :**

**(۱) جلسات شورای رهبری در هر سه ماه یک بار دایر میگردد.**

**(۲) نصاب تدویر جلسات شورای رهبری حضور اکثریت اعضا می باشد.**

**(۳) تصامیم در جلسات به اکثریت اعضای حاضر در جلسه اتخاذ می گردد.**

**(۴)جلسات شورای رهبری در مقر انجمن دایر می گردد.**

**(۵) آجندای جلسات شورای رهبری از طرف آمر اجریی ترتیب و حد اقل یک هفته قبل از تدویر به اطلاع اعضاء رسانیده می شود.**

**(٦) شورای رهبری می تواند به منظور تنظیم و تدویر جلسات طرز العمل جداگانه ترتیب نماید.**

## جلسات هیئت اجرائیه

**مادهٔ بیست و نهم:**

**(۱)نصاب جلسات هیئت اجرائیه با حضورسه عضوبه شمول (رئیس انجمن یا یکی از معا ونان رئیس ) تکمیل می گردد.**

**(۲) جلسات هیئت اجرائیه حد اقل در هر هفته یک بار دایر می گردد.**

**(۳) جلسات هیئت اجرائیه توسط رئیس ودر غیاب آن توسط معاون وی تدویر می گردد.**

**(۴)جلسات هیئت اجرائیه در مقرانجمن دایر می شود.**

**(۵) انجمن می تواند به منظور تنظیم وتدویر جلسات هیئت اجرائیه طرزالعمل جداگانه وضع نماید.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## غړیتوب، حقوق او مکلفیتونه

### غړیتوب

دېرشمه ماده :

هغه شخص دټولنې دغړي په توګه منل کېد لای شي، چې د مدافع وکیلانو د قانون په شپږمه ماده او نوروحکمونو کې دلیکل شویو شرطونو لرونکي وي.

### د ټولنې غړي حقوق

یودېرشمه ماده :

دټولنې غړی د لاندې حقوقو لرونکي دي:

۱- دټولنې په ټولو ټاکنیزو مقامونو کې ټاکل کیدل او ټاکل د دې اساسنامې د احکامو مطابق.

۲- دټولنې په ټولو غونډوکې رأیه ورکول، خو داچې اساسنامې بل ډول حکم کړی وي.

۳-دټولنې په غونډوکې په آزادانه توګه دنظرڅرګندول.

۴- په ټولنې پورې داړوندو چارو دښه والي په اړه ، دوړاندیزونو او نظریو وړاندې کول.

۵- دټولنې له آسانتیاوو او امتیازونو څخه ، ګټه اخیستنه.

### د ټولنې دغړو مکلفیتونه

دوه دېرشمه ماده:

دټولنې غړی د لاندې مکلفیتونو لرونکي دي :

۱- د دې اساسنامې د حکمونو مطابق دحق الامتیاز او غړیتوب حق ورکول .

۲- په ټولنې پورې داړوندو چارو پرمخ بیولو کې رغنده برخه اخیستنه.

۳- دټولنې د واکمنو مراجعو دپریکړو په پام کې نیول او

# فصل پنجم

## عضویت ،حقوق ومکلفیت ها

### عضویت

مادۀ سی ام:

شخصی به صفت عضو انجمن پذیرفته شده می تواند که واجد شرایط مندرج مادۀ ششم وسایر احکام قانون وکلای مدافع باشد.

### حقوق عضو انجمن

مادۀ سی و یکم :

عضو انجمن دارای حقوق ذیل می باشد :

۱- انتخاب شدن وانتخاب کردن در تمام مقامات انتخابی انجمن مطابق احکام این اساسنامه .

۲- رآی دهی در تمام جلسات انجمن مگر این که اساسنامه طور دیگری حکم نموده باشد.

۳- ابراز نظر آزادانه در جلسات انجمن.

۴- ارائۀ پیشنهادات و نظریات در رابطه به بهبود امور مربوط به انجمن.

۵- استفاده از تسهیلات وامتیازات انجمن.

### مکلفیت های عضو انجمن

ماده سی و دوم :

عضو انجمن دارای مکلفیت های ذیل می باشد :

۱ــ پرداخت حق الامتیاز وحق العضویت مطابق احکام این اساسنامه .

۲ــ سهمگیری فعالانه در پیشبرد امور مربوط به انجمن .

۳ــ رعایت و عملی نمودن فیصله های مراجع ذی صلاح انجمن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي کول.

۴- په اړوندو غونډوکې حضُور .

۵- دمدافع وکیلانو قانون د حکمونو سره سم، په وړیـــا توگه، د بیوزله تورن او مظنون له حقوقو څخه دفاع .

٦- دمدافع وکیلانو قانون، ددغې اساسنامې د حکمونو او دمدافع وکیلانو چلند د ډول په پام کې نیول.

۷- د حقوقي مرستو په وړاندې کولو کې د حقوقي مرستو له خپلواک بورډ سره همکاري کول.

## وياړمن (افتخاري) غړی

دري دېرشمه ماده:

رهبري شوري کولای شي نور اشخاص، دټولنې دافتخاري غړو په توگه ومني.

افتخاري غړي درايې حق نه لري، کولاي شي په غونډوکې گډون وکړي

۴ــ حضور در جلسات مربوط .

۵ــ دفاع از حقوق مظنون و متهم بی بضاعت طور رایگان طبق احکام قانون وکلای مدافع.

٦ــ رعایت احکام قانون وکلای مدافع ، این اساســنامه ، طرز سلوک ورفتار وکلای مدافع .

۷- همکاری با بورد مستقل مساعدت های حقــوقی در ارایۀ خدمات مساعدت های حقوقی.

## عضو افتخاری

مادۀ سی وسوم :

شورای رهبری  می تواند اشخاص دیگری را به حیث عضو افتخاری انجمن بپذیرد.

اعضای افتخاری دارای حق رأی نبوده مــی تواننــد در جلسات شرکت نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم فصل

## دټولنې درهبرۍ چارواکو عزل او استعفیٰ

### دعزل حالات

څلوردېرشمه ماده :

(۱) داجرائیه پلاوي ، د څارنې پلاوي او دټاکنو ،ښوونو او د کميټو په شمول، درهبرۍ دشورى غړي، پــه لانـــدې حالاتو کې عزل کيږي:

۱– د وظيفې له اجرا څخه نا تواني .

۲– پداسې جسمي يا دماغي د درملنې نه وړ ناروغيو باندې اخته کيدل، چې د دندې دسرته رسولو خنډ وګرځي.

۳– دسپارل شويو دندو په سرته رسولو کې، دکفايت نــه لرل .

۴– د جنايت په جرم باندې محکوميت .

۵– ددغې اساسنامې او دټولنې دنورو سندونو له حکمونو څخه سرغړونه.

(۲) عزل ، ددې مادې د(۱) فقرې په (۳او۵)اجزاو کې په ليکل شويوحالاتو کې، د رهبرۍ شورې د اکثريت غړو په تصويب صورت مومي.

(۳)ټولنه کولای شي ، ددې مادې په (۱) فقره کې په ليکل شويو حالاتو يا د انتخابي غړي د مړينې په صورت کـــې ، ددې اساسنامې دحکمونو سره سم ، دشـــرايطو لرونکـــی شخص له احوالو سره سم د آزادو، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې وټاکي.

### استعفیٰ

پنځه دېرشمه ماده :

(۱) درهبرۍ شورى ، اجرائيوي پلاوى ، څارنې پلاوى، د ټاکنو، ښوونو دکميټو غړي او دټولنې نور غړي کـــولای شي، د موجه عذر د لرلو په صورت کې، دخپلې استعفی

# فصل ششم

## عزل و استعفای مقامات رهبری انجمن

### حالات عزل

ماده سی وچهارم:

(۱) اعضای شورای رهبری ، به شمول هيئت اجرائيـــه ، هيئت نظارت ،کميته های انتخابات و تعليمات در حالات ذيل عزل می شوند:

۱– ناتوانی از اجرای وظيفه.

۲ــ ابتلاء به امراض صعب العلاج جسمی يا دماغی کـــه مانع اجرای وظيفه شود.

۳– عدم کفايت در اجرای امور محوله .

۴ــ محکوميت به جرم جنايت.

۵ــ تخطی ازاحکام اين اساسنامه وسايراسناد انجمن .

(۲) عزل در حالات مندرج اجزای (۳و۵) فقره (۱) اين ماده به تصويب اکثريت اعضای شورای رهبری صورت می گيرد.

(۳) انجمن می تواند در حالات مندرج فقره (۱) اين ماده يا در صورت فوت عضو انتخابی مطـــابق احکـــام ايـــن اساسنامه شخص واجد شرايط را حسب احوال ازطريـــق انتخابات آزاد ، سری و مستقيم انتخاب نمايد.

### استعفا

مادهٔ سی وپنجم:

(۱)اعضای شورای رهبری ، هيئت اجرائيه ،هيئت نظارت، کميته های انتخابات ، تعليمات وساير اعضای انجمن می توانند در صورت داشتن عذر مؤجه در خواست اســـتعفاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غوښتنلیک، په لیکلې توګه ټولنې ته وړاندې کړي.**

**درهبرۍ شورى، اجرائيه پلاوي او څارنې پلاوي د غړو داستعفىٰ منل دټولنې دعمومي مجمع لخوا او دټاکنو او د ښوونو کميټو دغړو د استعفي منل د رهبرى شورى لخوا صورت مومي.**

**(۱) داستعفيٰ منل کيدو په صورت کې ، نوى غړى ددغې اساسامې دحکمونو سره سم ټاکل کيږي.**

**خويش را کتباً به انجمن ارائه نمايند.**

**منظورى استعفاء اعضاى شوراى رهبرى ، هيئت اجرائيه وهيئت نظارت از طرف مجمع عمومى انجمن و منظورى استعفاء اعضاى کميته هاى انتخابات و تعليمات از طرف شوراى رهبرى صورت مى گيرد.**

**(۲) در صورت قبول استعفاء ، عضو جديد مطابق احکام اين اساسنامه انتخاب ميشود.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم فصل
# تأديبي حکمونه

## دمدافع وکیل پرخلاف شکایت

شپږدېرشمه ماده:

(۱) شکایت کوونکی شخص کولای شي ، دمدافع وکیل یا د هغه دکار کوونکو د چلند په نسبت خپل شـــکایت،په لیکلې توګه څارنې پلاوي ته وړاندې کړي.

(۲) د څارنې د پلاوی منشي، رسیدلي شکایت ددوو اونیو مودې په ترڅ کې، هغهٔ مدافع وکیل ته چې شکایت یې پر خلاف لیکل شوی دی، ابلاغوي .

## دڅارنې پلاوي تصمیمونه

اووه دېرشمه ماده :

(۱) د څارنې پلاوی، رسیدلی شکایت څېړي او په هکله یې یو له لاندې تصمیمونوڅخه، نیسي:

۱- دشکایتونو څېړل.

۲- د اړخونو احضارول.

۳- دمنځګړیتوب په موخه، اجرائیوی آمر ته د شکایتونو وړاندې کول.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې رسیدلی شکایت موجه وي د څارنې پلاوی ، د سرغړونکي شخص په تادیب اقدام کوي

## دسلوک ډول

اته دېرشمه ماده :

(۱) دحقوقي خدمتونو په ښه او معیاري توګه په وړانـــدې کولو پورې اړونده چارې، د وکیل له مؤکل او محکمـــو سره د اړیکو تامینول ، دموکل له حقوقو څخه ملاتـــړ ،

# فصل هفتم
# احکام تاد یبی

## شکایت علیه وکیل مدافع

مادهٔ سی و ششم:

(۱) شخص شاکی میتواند شکایت خودرا به صورت کتبی نسبت رفتار وکیل مدافع یا کارکنان وی به هیئت نظارت ارائه نماید.

(۲) منشـــی هیئـــت نظـــارت ، شـــکایت وارده را در خلال مدت دوهفته به سمع وکیل مدافعیکه شکایت علیه وی درج گردیده است مي رساند.

## تصامیم هئیت نظارت

ماده سی و هفتم:

(۱) هیئت نظارت، شکایت وارده را مورد بررسی قـــرار داده و در مورد یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ مینماید:

۱ــ بررسی شکایات.

۲ــ احضار طرفین.

۳ــ ارجاع شکایات وارده به آمر اجرایوی بـــه منظـــور میانجیگری .

(۲) در صورتیکه شکایت وارده مؤجه باشـــد ، هیئـــت نظارت به تأدیب شخص خاطی اقدام می نماید.

## طرز سلوک

مادهٔ سی و هشتم:

(۱)امور مربوط به عرضهٔ بهتر ومعیاری خدمات حقوقی ، تأمین روابط وکیل با مؤکل ومحاکم ، حمایت از حقوق مؤکل وارتقای سطح معیار های اخلاقی وکـــلای مـــدافع

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمدافع وکیلانو اخلاقي معیارونو د لوړولو او دمدافع وکیل دسلوک ډول ، ددغې اساسنامې په (۱) ګڼه ضمیمه کــې لیکلي دي.

(۲) که چیرې مدافع وکیل یا دټولنې کـــارکونکی، ددې اساسنامې په ضمیمه کې لیکل شوي دسلوک ډول نقـــض کړي ، د څارنې پلاوی کولای شي ، دهغهٔ قضیه تر څیړنې لاندې ونیسي.

## دمدافع وکیل احضارول

نهه دېرشمه ماده:

(۱) دڅارنې پلاوی کولای شي ، شکایت کوونکی شخص او مدافع وکیل احضار کړي ، قضیه تر څیړنـــې لانـــدې ونیسي.

(۲) د څارنې پلاوی کولای شي، اضـــافي ســـندونه او مدارک له اړخونو څخه وغواړي.

(۳) مدافع وکیل، د څارنې پلاوي د دستوررونو په پام کې نیولو مکلف دی .

(۴) که چیرې مدافع وکیل ددې مادې په (۱) فقره کـــې لیکل شوي شرایط نقض کړي،موضوع په لیکلــي توګـــه دڅارنې پلاوي له لارې هغه ته خبر ورکول کیږي.

(۵) که چیرې مدافع وکیل تریوې اوونۍ پورې د څـــارنې پلاوي له دستورونو څخه سروغړوي ، پلاوی حق لري بل ځل موضوع هغهٔ ته اخطار کړي.

## محکمې ته مراجعه

څلوېښتمه ماده :

که چیرې مدافع وکیل ، د څارنې پلاوي، اجرائیه پلاوي یا د رهبری شوری لخوا په ټاکل شوي تأدیب قناعـــت ونـــه لري، کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي.

وطرز سلوک وکیل مدافع در ضمیمه شـــماره(۱) ایـــن اساسنامه درج می باشد.

(۲) هرگاه وکیل مدافع یا کارمند انجمـــن طرزســـلوک مندرج ضمیمه این اساسنامه را نقض نماید ، هیئت نظارت می تواند قضیه وی را مورد بررسی قرار دهد.

## احضار وکیل مدافع

مادهٔ سی و نهم:

(۱) هیئت نظارت میتواند شخص شاکی ووکیل مدافع را احضار نموده ، قضیه را مورد بررسی قرار دهد .

(۲) هیئت نظارت می تواند اسناد و مدارک اضافی را از طرفین مطالبه نماید.

(۳)وکیل مدافع مکلف به رعایت دساتیر هیئت نظـــارت می باشد .

(۴) هرگاه وکیل مدافع شرایط مندرج فقره (۱) این ماده را نقض نماید موضوع بطور کتبی از طریق هیئت نظارت به وی اطلاع داده می شود.

(۵) هرگاه وکیل مدافع الی یک هفته از تطبیق دســـاتیر هیئت نظارت سر پیچی نماید ، هیئت حق دارد بار دیگر موضوع را به وی اخطار نماید.

## مراجعه به محکمه

ماده چهلم:

هرگاه وکیل مدافع درتعیین تأدیب از طرف هیئت نظارت ، شورای رهبری یا هیئت اجرائیه قناعت نداشـــته باشـــد ،میتواند به محکمه مراجعه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم فصل
# ورستني حکمونه

## جواز لیک

یوڅلوېښتمه ماده :

(۱) ددفاع وکالت جواز لیک حقوقي چاپي سند دی چې دهغه شکل او منځپانګه(محتوی) دټولني لخوا ترتیب او دټاکلې بیې په وړاندې، دمدافع وکیلانو دقانون او دغې اساسنامې د حکمونو سره سم ، غوښتونکي ته ورکول کیږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د لیکل شوی جواز لیک بیه (۱۰۰۰) افغانی ده .

(۳) دجواز لیک نمونه ددې اساسنامې (۲) ګڼه ضمیمه ده.

## حق الزحمه

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) دمدافع وکیل او مؤکل حق الزحمه ، حقوق او وجیبې ، داړخونو تر منځ د لیکلي مقاولې پر بنسټ، او د اړوند کړنلارې په پام کې نیولوسره ټاکل کیږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې لیکل شوې مقاوله ، ددغې اساسنامې دریېمه ګڼه ضمیمه ده .

## له دریو قضیو څخه په وړیا توګه دفاع

دري څلوېښتمه ماده :

مدافع وکیل مکلف دی په یوه کال کې لږتر لږه درې جنایي قضیې په وړیا توګه، د بیوزلو تورنو او مظنونینو لپاره چې دحق الزحمې د ورکړې مالي توان ونه لري، دعدلیې وزارت په تشخیص، دفاع وکړي .

# فصل هشتم
# احکام نهائی

## جواز نامه

ماده چهل و یکم:

(۱)جواز نامهٔ فعالیت وکالت دفاع ،سند مطبوع حقوقی است که شکل و محتوای آن از طرف انجمن ترتیب و در مقابل قیمت معینه طبق احکام قانون وکلای مدافع و این اساسنامه به در خواست دهنده داده می شود.

(۲) قیمت جوازنامهٔ مندرج فقره (۱) این ماده مبلغ (۱۰۰۰) افغانی می باشد.

(۳) نمونهٔ جواز نامه ضمیمهٔ شماره (۲) این اساسنامه می باشد.

## حق الزحمه

مادهٔ چهل ودوم

(۱) حق الزحمه ، حقوق ووجایب وکیل مدافع ومؤکل به اساس مقاوله تحریری بین طرفین و رعایت طرز العمل مربوط تثبیت می شود.

(۲) مقاوله مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ضمیمهٔ شماره(۳) این اساسنامه می باشد.

## دفاع از سه قضیه طور به رایگان

ماده چهل و سوم:

وکیل مدافع مکلف است حد اقل سه قضیه جنایی را طور رایگان در یک سال برای مظنونین ومتهمین بی بضاعت که توان مالی پرداخت حق الزحمه را نداشته باشند ، به تشخیص وزارت عدلیه دفاع نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عملي او اموزشي کار

**څلور څلويښتمه ماده:**

مدافع وکیل کولای شي د ديني مدرسو يا د هغوی معادل او د حقوقو او شرعیاتود پوهنځیو فارغین د علمي او مسلکي زده کړې او عملي کار د تیرولو په موخه، د مدافع وکیلانو و اړونده کړنلارې له مخې ومني.

## کار عملی و آموزشی

**مادهٔ چهل و چهارم:**

وکیل مدافع می تواند فارغین مدارس دینی رسمی یا معادل آن و محصلین پوهنحی های حقوق و شرعیات را غرض سپری نمودن کار عملی و آموزش مسلکی مطابق قانون وکلای مدافع و طرزالعمل مربوط، بپذیرد.

## په بانک کې دپیسو تحویلول

**پنځه څلويښتمه ماده :**

(۱) دټولنې ټول ترلاسه شوي عواید چې دقانون د حکمونو سره سم لاسته راځي، دمالي مسؤول په واسطه ، دټولنې په بانکي حساب کې تحویلیږي.

(۲)ټولنه کولاي شي کلنۍ بودجه ،غړيتوب حق او دجواز لیک بیه ، لوړه کړي.

## تحویل پول در بانک

**مادهٔ چهل وپنجم:**

(۱)تمام عواید حاصله انجمن که طبق احکام قانون بد ست می آید ،توسط مسوول مالی در حساب بانکی انجمن تحویل میگردد.

(۲)انجمن می تواند بودجهٔ سالانه ، حق العضویت و قیمت جواز را افزایش دهد.

## دټولنې مالي چارو پلټنه

**شپږ څلويښتمه ماده:**

(۱) دټولنې مالي چارې دڅارنې پلاوي په وسیله پلټل او څارل کیږي.

(۲)ټولنه دارټیا په صورت کې کولای شي نړیوال پلټونکي راوبلي ، دټولنې دمالي چارو پلټنه او څیړنه ، دنړیوالو او خپلواکو پلټونکو په وسیله صورت موندلای شي.

## تفتیش امور مالی انجمن

**ماده چهل و ششم:**

(۱) امورمالی انجمن توسط هیئت نظارت ، تفتیش ونظارت می شود.

(۲) انجمن در صورت ضرورت می تواند مفتشین بین المللی را دعوت نماید، تفتیش و بررسی امور مالی انجمن توسط مفتشین بین المللی و مستقل صورت گرفته می تواند.

## دمدافع وکیل مرستیال

**اووه څلويښتمه ماده :**

مدافع وکیل کولای شی چی د اړوندو چارو په مخ بیولو کې مرستیال وګماري. د مرستیال دندې د مدافع وکیلانو د قانون او اړونده کړنلارو پر بنسټ د مدافع وکیل له خوا ټاکل کیږی.

## معاون وکیل مدافع

**مادهٔ چهل و هفتم :**

وکیل مدافع می تواند به منظور پیشبرد امور مربوطه یکنفر را به حیث همکار استخدام نماید. وظایف همکار مطابق احکام قانون وکلای مدافع و طرزالعمل مربوط، از طرف وکیل مدافع تعیین می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توامیت

**اته څلوېښتمه ماده :**

ټولنه کولای شي له نړیوالو مماثلو ټولنو ســره توامیــت ولري.

## دمرستومنل

**نهه څلوېښتمه ماده :**

ټولنه کولای شي دمدافع وکیلانو دقانون ددېرشمې مادې دحکم سره سم ، دکورنیو او بهر نیو حقیقي او حکمــي اشخاصو مرستې ومني.

## دګډون حق

**پنځوسمه ماده :**

هغه شخص چې دټولنې غړیتوب یې تر لاسه او نــوم یــې دمدافع وکیلانو په فهرست کې لیکل شوی دی ، کولای شي د رهبرۍ شورې اجرائیه هیئت او د څارنې پلاوي پــه ټاکنو کې برخه واخلي.

## د مدافع وکیل یونیفورم

**یو پنځوسمه ماده:**

مدافع وکیل د ځانګړي لباس لرونکې دی، چې د هغه ډول د رهبرۍ شورې له خوا ټاکل کیږي.

## انفاذ

**دوه پنځوسمه ماده:**

دغه اساسنامه دټولنې دعمومي مجمع له تصویب، خپرېدو او د عدلیې په وزارت کې له ثبت وروسته نافذه ده

## توأمیت

**مادۀ چهل و هشتم:**

انجمن میتواند با انجمن های مماثل بین المللی توأمیت داشته باشد.

## پذیرش کمک ها

**مادۀ چهل و نهم:**

انجمن می تواند کمک های اشخاص حقیقــی و حکمــی داخلی و خارجی را طبق حکم ماده سی ام قانون وکلای مدافع بپذیرد.

## حق اشتراک

**ماده پنجاهم:**

شخصی که عضویت انجمن را حاصــل و اســم وی در فهرست وکلای مدافع درج گردیدۀ است ، می توانــد در انتخابات شورای رهبری، هیئت اجرائیه، و هئیت نظارت، اشتراک نماید.

## لباس وکیل مدافع

**ماده پنجاه ویکم:**

وکیل مدافع دارای لباس مخصوص بوده، که نوعیــت آن توسط شورای رهبری انجمن تعیین می گردد.

## انفاذ

**مادۀ پنجاه و دوم :**

این اساسنامه بعد از تصویب مجمع عمومی انجمن،نشــر وثبت، در وزارت عدلیه نافذ می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضمیمۀ شماره (۱) اساسنامه انجمن وکلای مدافع

# مصوب ۷ / ۱۱ / ۱۳۸۷ شورای رهبری انجمن

# د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د اساسنامې (۱) ګڼه ضمیمه

# په ۷ / ۱۱ / ۱۳۸۷ نیټه کې د

# شورای رهبري مصوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدافع وکیلانو دسلوک او چلند د ډول په هکله
# د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د اساسنامې (۱) گڼه ضمیمه

## لومړی فصل
## عمومي اصول

### موخه:

لومړۍ ماده:

دغه ضمیمه، د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې داساسنامې(بنسټ لیک) د دري څلویښتمې مادې په (۱) فقره کې د لیکل شوي حکم سره سم، د حقوقي ښو او معیاري خدمتونو په وړاندې کولو، د مدافع وکیل او مؤکل ترمنځ د سالمو اړیکو په ټینگولو، د مؤکل له حقوقو څخه ملاتړ او د مدافع وکیلانو د اخلاقي او مسلکي معیارونو د کچې لوړولو، د مدافع وکیلانو د چلند ډول او رفتار پورې اړونده چارې سمبالوي

### د مسلکي اخلاقو په پام کې نیول

دویمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی، د حقوقي مشورې او خدمتونو د سرته رسولو په وخت کې، د مدافع وکیلانو په قانون کې لیکل شوي معیارونه په خپلو عملونو او کردار کې رعایت کړي.

# در مورد طرز سلوک و رفتار وکلای مدافع
# ضمیمهٔ شماره (۱) اساسنامه انجمن وکلای مدافع

## فصل اول
## اصول عمومی

### مقصد

مادهٔ اول :

این ضمیمه مطابق حکم مندرج فقرهٔ (1) مادهٔ چهل وسوم اساسنامهٔ انجمن مستقل وکلای مدافع امور مربوط به عرضه بهترومعیاری خدمات حقوقی، تأمین روابط سالم میان وکیل مدافع ومؤکل، حمایت ازحقوق مؤکل و ارتقای سطح معیار های اخلاقی ومسلکی وکلای مدافع ، طرز سلوک ورفتار وکلای مدافع را تنظیم می نماید.

### رعایت اخلاق مسلکی

مادهٔ دوم :

وکیل مدافع مکلف است حین انجام خدمات حقوقی و مشوره ،معیار های مندرج قانون وکلای مدافع را در اعمال و کردارخود رعایت نماید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپلواکي

درېیمه ماده:

مدافع وکیل باید په وکالت اوحقوقي مشوروکې فشارهرډول تعصب نه پرته

په خپلواک ډول خپله دنده مخ ته بوزي.

## رښتینوالي، سموالی او انصاف

څلورمه ماده:

مدافع وکیل با یدد همکارانوپه وړاندی رښتینوالي سموالی او انصاف معیارونه رعایت کړی.

## د بل مدافع وکیل له سرغړونې څخه خبر ورکول

پنځمه ماده:

که چیرې مدافع وکیل د مدافع وکیل یا یوه کارمنـــد پــه وسیله د قانون ماتولویا د هغو له ناوړه چلند څخه خبر تر لاسه کړي، مکلف دی، چې ټولنه په مستند ډ ول جریـــان کې واچوي.

## له حق الزحمې پرته د بل څه د اخیستلو منع والئ

شپږمه ماده:

(۱) مدافع وکیل نشي کولای د قانوني حق الزحمې پرتــه پیسې، ډالی، جنس یا بل مال د ځان یا بل شخص لپـــاره وغواړي.

(۲ ) مدافع وکیل نشي کولای د دندې سرته رسولو، ډډې کولو یا درولو (توقف) په موخه دقانوني حق الزحمې پــه استثنی پیسې، ډالی، جنس یا بل مال له مؤکل څخه د ځان یا بل شخص لپاره وغواړي.

(۳ ) مدافع وکیل نشي کولای د مدافع وکیل ، قاضي یـــا بل مقام د ترغیب او هڅونې په منظور، پیسې، ډالی، جنس

## استقلال

مادۀ سوم :

وکیل مدافع باید دروکالت وارائۀ مشوره های حقوقی به صورت مستقل وعاری ازفشارهاوانواع تعصبات به وظیفۀ خویش بپردازد.

## صداقت، درستی و انصاف

مادۀ چهارم :

وکیل مدافع باید معیارهای صداقت ،درستی وانصاف را دربرابرهمکاران رعایت نماید.

## اطلاع از تخلف وکیل مدافع

مادۀ پنجم:

هرگاه وکیل مدافعی از نقض قانون توسط وکیلی مدافع یا کارمند او و یا سوء رفتار آنان آگاهی حاصل می نماید ، مکلف است انجمن را به طور مستند در جریان قرار دهد.

## عدم مطالبه متاعی غیر از حق الزحمه

مادۀ ششم:

(۱)وکیل مدافع نمی تواند مال ،خدمت ومنفعت دیگری را به استثنای حق الزحمۀ قانونی برای خود یا شخص دیگر مطالبه نماید.

(۲) وکیل مدافع نمی تواند به منظور اجرا ، امتناع و یا توقف از اجرای وظیفه مال ،خدمت و منفعت دیگری را به استثنای حق الزحمۀ قانونی از مؤکل برای خود ویا شخصی دیگری مطالبه نماید.

(۳) وکیل مدافع نمی تواند به منظور ترغیب وتشویق وکیلی مدافع دیگر ، قاضی یا مقام دیگری مال،خدمت و

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یا بل مال د هغې دندې د سرته رسولو ډډې کولو یا درولو لپاره چې ورته سپارل شویده، ورکړي یا یې وړاندیز وکړي.**

## د قضیو منل یا ردول

اوومه ماده:

**مدافع وکیل د قضیو په منلو یا ردولو کې واک لري، خو داچې د مدافع وکیلانو په قانون او دغې اساسنامې کې بل ډول روښانه شوې وي.**

**منفعت دیگری راجهت اجرا ،امتناع یا توقف اجرای وظیفه یي که به وی محول گردیده بدهد یا پیشنهاد نماید.**

## قبول و رد قضایا

مادهٔ هفتم:

**وکیل مدافع درقبول یا رد قضایا مختاراست،مگراین که درقانون وکلای مدافع واین اساسنامه طور دیگری تصریح شده باشد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم فصل

# له مؤکلانو سره اړیکې

## د مؤکل خبرول

اتمه ماده:

(۱ ) مدافع وکیل مکلف دی، خپل مؤکل د کار له پرمختګ څخه وخت په وخت خبر کړي.

(۲ ) که چیرې مدافع وکیل د موجه ؤ عذرونو له کبله ونشي کولای قضیه پر مخ بوزي له منلو څخه دې ډډه وکړي.

## توپیر(تبیعض) نه لرل

نهمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی له مؤکلینو سره د توکم، قوم، ملیت، دین، سیاسې عقیدې، جنسیت، مالکیت او اقتصادي وضیعیت د توپیرونو او تعصبونو له په پام کې نیولو پرته، یوډول چلند وکړي.

## د مؤکل ګټې

لسمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی د عدالت د تامین د قانون رعایت او د اخلاقی معیارونو د ساتلو په موخه د موکل منافع په نظر کې ونیسي.

## د رازونو ساتل

یوولسمه ماده:

(۱) مدافع وکیل، د وظیفوي( د دنده ییزو) رازونو په ساتلو او د مسلکي دندو په سرته رسولو او د مسلکي اخلاقو په پام کې نیولومکلف دی.

(۲) مدافع وکیل د همکارانو، کارمندانو او هغوکسانو، چې د حقوقي خدمتونو له وړاندې کولو سره اړه لري، د رازونو په ساتلو مکلف دی.

# فصل دوم

# روابط با مؤکل

## اطلاع به مؤکل

مادۀ هشتم:

(۱) وکیل مدافع مکلف است مؤکل خویش را از جریان پیشرفت کار وقتاً فوقتاً مطلع سازد.

(۲) هرگاه وکیل مدافع بنابر معاذیری مؤجه نتواند قضیۀ یی رابه موقع پیش ببرد از آن خود داری نماید.

## نداشتن تبعیض

مادۀ نهم:

وکیل مدافع مکلف است با مؤکلین خود بدون درنظر داشت تبعیضات و تعصبات نژادی ، قومی ، ملیتی ، دینی ، سیاسی ، جنسیت ، مالکیت ووضعیت اقتصادی برخورد مساوی نماید.

## منافع مؤکل

مادۀ دهم :

وکیل مدافع مکلف است منافع مؤکل خودرا به خاطرتأمین عدالت ، رعایت قانون و حفظ معیار های اخلاقی ، در نظر بگیرد.

## حفظ اسرار

مادۀ یازدهم:

(۱) وکیل مدافع مکلف به حفظ اسراروظیفوی وانجام وظایف مسلکی و رعایت اخلاق مسلکی می باشد.

(۲)وکیل مدافع مکلف به حفظ اسرار همکاران ، کارمندان، و افرادی می باشد که در ارائۀ خدمات حقوقی ارتباط دارند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اصلاحي تدبيرونه

دوولسمه ماده:

که چیرې مدافع وکیل د دفاع وکالت ددندې د پرمخبیولو په بهیرکې خبر شي، چې مؤکل یې د جــرم یـــاتخلف د ارتکاب په حال کې دی، کولای شی د دفاع وکالت لـــه دوام څخه ډډه وکړي.

## دګټو تعارض (ټکر)

د یارلسمه ماده:

(۱ )مدافع وکیل نشي کولای خپل مؤکل ته په داسې توګه مشوره ورکړي چې د هغه له ګټو سره په تعارض(ټکر) کې واقع شي.

(۲ ) که چیرې مدافع وکیل د خپل مؤکل له قضـــیې څخـــه خبرتیا ولري، نشي کولای د نومړي مؤکل رازونه، مـــالي ،خدمت یا ګټود ترلاسه کولو په بدل کې د بل لوري یا بـــل شخص په واک کې ورکړي یا له هغه څخه استازیتوب وکړي.

(۳ ) مدافع وکیل کولای شي په هغه صورت کې، چې په دې ماده کې لیکل شوی تعارض(ټکر) یا د باور د ماتیـــدو ګواښ وي یا د هغه خپلواکي زیان وومومي، د دفاع وکالت له دوام څخه ډډه وکړي.

## د مدافع وکیل د شهادت نه ورلاندي کول

څوارلسمه ماده :

مدافع وکیل نشي کولای په هغه قضیه کې، چې ورڅخه دفـــاع کوي ، د شاهد په توګه شهادت اداء کړي یا مشوره ورکړي.

## د تجربو او قوانینو سره سم د نظرورلاندې کول

پنځه لسمه ماده :

مدافع وکیل دنده لري خپل مؤکل ته، چـــې د مشـــورې ورلاندې کولو غوښتونکی وي خپل نظرپه ریښتیني توګه د مسلکي تجربو او پوهې او نافذه قوانینو سره سم، ورکړي .

## امتناع از ادامهٔ وکالت

مادهٔ دوازدهم :

هرگاه وکیل مدافع درجریان پیشبرد وظیفهٔ وکالت دفاع آگاه شود که مؤکل او در حال ارتکاب جرم یا تخلف می باشد ، می تواند از ادامهٔ وکالت دفاع امتناع ورزد.

## تعارض منافع

مادهٔ سیز دهم :

(۱)وکیل مدافع نمی تواند به مؤکل خود طوری مشوره دهد که با منافع او در تعارض واقع شود.

(۲)هرگاه وکیل مدافع ازقضیه مؤکل خویش آگاهی داشته باشد نمی تواند اسرارمؤکل مذکوررادربدل دریافت مال،خدمت یا منفعت به اختیار جانب مقابل یا شخص دیگری قراردهد ویا از او نمایندگی نماید.

(۳)وکیل مدافع می تواند درصورتی که تعارض منافع مندرج این مادهٔ ویا خطرنقض اعتماد موجود باشد یا استقلال او صدمه ببینداز ادامهٔ وکالت دفاع امتناع ورزد.

## عدم ارائهٔ شهادت وکیل مدافع

مادهٔ چهاردهم:

وکیل مدافع نمی تواند در قضیه ییکه از آن دفاع می نماید به حیث شاهد ، شهادت اداء یا مشوره ارائه نماید.

## ارائهٔ نظر مطابق تجارب وقوانین

مادهٔ پانزدهم:

وکیل مدافع وظیفه دارد به مؤکل خویش که خواهان ارائهٔ مشوره می باشد نظر خویش را طور صادقانه مطابق تجارب ،دانش مسلکی و قوانین نافذه ارائه نماید .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفاع

شپاړلسمه ماده :

مدافع وکیل مکلف دی، یوازې له هغو قضیو څخه دفاع وکړي، چې مؤکل یا واکمن مقام هغه ته سپارلي دي.

## دوکالت له سرته رسولوڅخه ډډه نه کول

اوولسمه ماده :

(۱) مدافع وکیل نشي کولای دهغې قضیې د پرمخبیولو څخه، چې په سرته رسولو یې ګمارل شوی دی، له معقول عذر او خپل مؤکل ته له مخکینۍ خبرتیا پرته، ډډه وکړي.

( ۲ ) که چیرې مدافع وکیل د موجه عذر پربنسټ وغواړي، له قضیې څخه څنګ ته شي، مکلف دی د محاکمې له پیل څخه لږ ترلږه یوه اوونۍ د مخه، خپل مؤکل ته، خبر ورکړي.

( ۳ ) که چیرې مدافع وکیل د محاکمې په بهیرکې ، د مؤجه عذرله کبله ، دقضیې له پرمخبیولو څخه ډه ډه وکړي ، مکلف دی موضوع سمدلاسه قاضي ته خبرورکړي او اړونده سندونه خپل مؤکل ته وسپاري .

## په ښه توګه ددندو سرته رسول

اتلسمه ماده :

مدافع وکیل مکلف دی ، خپلې دندې په سمه توګه اوپروخت سرته ورسوي اوهغه قضیې چې په سرته رسولو یې قادرنه وي، ونه مني .

## د مؤکل په هکله دمعلوماتو را ټولول

نولسمه ماده :

مدافع وکیل مکلف دی دخپل مؤکل دشخصیت ، اهلیت او دقضیې سموالي په هکله په شوني لنډ وخت کې بشپړ

## دفاع

مادهٔ شانزدهم :

وکیل مدافع مکلف است صرف از قضایای دفاع نماید که مؤکل یا مقام ذیصلاح به او محول نموده است.

## عدم امتناع از انجام وکالت

مادهٔ هفدهم:

(۱) وکیل مدافع نمی تواند از پیشبرد قضیه ایي که به انجام آن مؤظف گردیده بدون عذر معقول و اطلاع قبلی به مؤکل خود، امتناع ورزد.

(۲) هرگاه وکیل مدافع به اساس عذر مؤجه ، بخواهد از قضیه کناره گیری نماید ، مکلف است حد اقل یک هفته قبل از آغازمحاکمه درموضوعات حقوقی وچهار روز درقصایای جزاي به مؤکل خود اطلاع دهد.

(۳) هرگاه وکیل مدافع در جریان محاکمه بنابر عذر مؤجه از پیشبرد قضیه امتناع نماید ، مکلف است موضوع را فوراً به محکمه اطلاع دهد ،در صورت کناره گیری ، وکیل مکلف است تمام اسناد مربوط را به مؤکل خود تسلیم نماید.

## انجام وظایف به حسن صورت

مادهٔ هجدهم :

وکیل مدافع مکلف است وظایف خودرا به صورت درست و به موقع انجام داده وقضایایی را که قادر به انجام آن نمی باشد، نپذیرد .

## جمع آوري معلومات در بارهٔ مؤکل

مادهٔ نزدهم:

وکیل مدافع مکلف است درمورد شخصیت ،اهلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات لاسته راوړي .

او ددفاع دوکالت ددندي په پرمختیولوکي ، له معقولو لارو چاروڅخه ګټه واخلي .

## د وصي یا قیم ټاکل

شلمه ماده :

مدافع وکیل کولای شي د خپلو هغو مؤکلینو لپاره چي د حقوقي نه اهلیت یا ناقص اهلیت لرونکي وي ، د وصي یا قیّم دټاکلوغوښتونکی شي.

## له موقف څخه ګټه اخیستنه

یوویشمه ماده :

مدافع وکیل نشي کولای له خپل موقف څخه ، د نا قانونه امتیاز داخیستلو په منظور ، ګټه واخلي.

## د وکیل حق الزحمه

دوه ویشتمه ماده :

(١) له مؤکل څخه وکالت ، د لیکلي موافقه لیک پربنسټ او په قراردادکي د ټا کل شوې حق الزحمې دورکړې په بدل کي صورت مومي .

( ٢ ) د مدافع وکیل حق الزحمه ، دټولنې دلارښود اومقرارتو سره سم ټاکل او ورکول کیږي.

( ٣ ) د مدافع وکیل دحق الزحمي اندازه دي ، مشخصه اوعادلانه وي .

## د موافقه لیک پربنسټ، د مؤکل له پیسو څخه ګټه اخیستل

درویشتمه ماده :

( ١ ) مدافع وکیل مکلف دی ، د مؤکل په حساب کي له موجود وپیسّو یا مال څخه د موافقه لیک سره سم ، ساّ تنه او مصرف وکړي

( ٢ ) مدافع وکیل مکلف دی ، دخپلو مؤکلینو حسابونه په جلا توګه وساتي .

وصحت وسقم قضیهٔ مؤکل خویش معلومات کافی به دست آورده واز شیوه های معقول در پیشبرد وظیفهٔ وکالت دفاع استفاده نماید.

## تعیین وصی و یاقیم

مادهٔ بیستم :

وکیل مدافع می تواند برای مؤکلین خویش که فاقد یا ناقص اهلیت حقوقی باشند خواستار تعیین وصی یاقیم گردد.

## استفاده از موقف

مادهٔ بیست یکم:

وکیل مدافع نمی تواند از موقف خویش به منظور اخذ امتیاز غیر قانونی استفاده نماید.

## حق الزحمه وکیل

مادهٔ بیست ودوم:

(١) وکالت از مؤکل بر اساس موافقتنامهٔ کتبی ودر بدل پرداخت حق الزحمه معین در قرار داد صورت می گیرد.

(٢) حق الزحمه وکیل مدافع مطابق رهنمود ومقررات انجمن تعیین وپرداخته می شود.

(٣) اندازه حق الزحمه وکیل مدافع مشخص وعادلانه باشد.

## مصرف از پول مؤکل به اساس موافقتنامه

مادهٔ بیست وسوم :

(١)وکیل مدافع مکلف است از پول یا مال موجود در حساب مؤکل مطابق موافقتنامه نگهداری ومصرف نماید.

(٢) وکیل مدافع مکلف است حسابات مؤکلین خودرا طور جداگانه نگه داری نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالي وجوهو او سندونو ثبتول

څلورويشتمه ماده :

**(۱) مدافع وکیل مکلف دی هغه مالی وجوه اوسندونه چي دکارپه بهیرکي يي له خپل مؤکل څخه اخلي ، پــه خپــل اړوند دفترکې ثبت کړي .**

**(۲) مدافع وکیل مکلف دی ، دهغو سندونو اومالي وجهي په وړاندې چي له خپل مؤ کل څخه يې ترلاسّــه کــوي، لیکلی رسید ورکړي.**

**د قرارداد په پای کې او د حق الزحمې په ورکړې ســره سندونه بیرته موکل ته ورکول کیږی.**

## د مسلک د عزت او حرمت ساتنه

پنځه ویشتمه ما ده:

**مدافع وکیل د دفاع په ټولو چارو کــې د اجراآتــو او د مشورې په وړاندې کولو کې، د خپل مسلک د عــزت او حرمت په ساتلو مکلف دی**

## د مدافع وکیل غوره کول

شپږويشتمه ماده:

**مدافع و کیل نشي کولای، د مدافع وکیل د غوره کولو په منظورُ شخص تر فشار لاندې ونیسي.**

## ثبت وجوه مالی واسناد

مادۀ بیست وچهارم

**(۱) وکیل مدافع مکلف است وجوه مالی و اسنادی راکه در جریان کار از مؤکل اخذ می نماید، به دفتر مربوط خود ثبت نماید.**

**(۲) وکیل مدافع مکلف است در مقابل اسناد ووجهی مالی که از مؤکل خود دریافت می نماید رسید کتبی بدهد.**

**در ختم قرار داد وپرداخت حق الزحمه اسناد دوباره به مؤکل اعاده می گردد.**

## حفظ عزت وحرمت مسلک

مادۀ بیست وپنجم

**وکیل مدافع در اجرای تمام اموردفاع و ارائه مشوره حقوقی مکلف به حفظ عزت وحرمت مسلک خود می باشد.**

## انتخاب وکیل مدافع

مادۀ بیست وششم:

**وکیل مدافع نمی تواند به منظور عقد وکالت، شخص را تحت فشار قرار دهد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## له محکمو او نورو مدافع وکیلانو سره اړیکې

### د مقرراتو او کړنلارې په پام کې نیول

اووه ویشتمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی، دقضیې د پرمخ بیولو په وخت کې، محکمې یا د محکمو دیوانونو ته حاضر شي د قانون داحکامو مطابق عمل وکړي.

### ناسم اسنادونه وړاندې کول.

ا ته ویشتمه ماده:

مدافع وکیل نشي کولای په پوهې سره ( آګاهانه) محکمې ته ناسم اسناد وړاندی کړی.

### له نورو مدافع وکیلانو سره د مدافع وکیل چلند

نه ویشتمه ماده:

مدافع وکیل له ټولو مدافع وکیلانو سره، د همکارپه توګه ښه چلند کوي، خو نشي کولای د مدافع وکیل ګټې د خپل موکل پرګټو وړاندی (مقدمې) وبولې.

### نه مکاتبه اودمحرمیت ساتل

دیرشمه ماده:

(۱) مدافع و کیل نشي کولای د یوې مشخصې قضیې یا موضوع په هکله، نیغ په نیغه ( مستقیماً) له هغه شخص سره چې د بل مدافع وکیل له وکالت یا مشورې څخه په همآغی قضیې یا موضوع کې برخمن دی، مکاتبه وکړي.

# فصل سوم

## روابط با محاکم وسایر وکلای مدافع

### رعایت مقررات وطرزالعمل

مادۀ بیست وهفتم:

وکیل مدافع مکلف است حین پیشبرد قضیه در محکمه یا دیوان های محاکم حاضرشده مطابق احکام قانون عمل نماید.

### عدم ارایۀ اسناد نادرست

مادۀ بیست هشتم:

وکیل مدافع نمی تواند آگاهانه به محکمه اسناد نادرست ارائه نماید.

### رفتار وکیل مدافع با وکلای مدافع دیگر

مادۀ بیست نهم

وکیل مدافع با تمام وکلای مدافع به عنوان همکار رفتار خوب نموده،اما نمی تواند منافع وکیل مدافع را بر منافع مؤکل خویش مقدم بداند.

### عدم مکاتبه وحفظ محرمیت

مادۀ سی:

(۱)وکیل مدافع نمی تواند در مورد یک قضیه یا موضوع مشخص مستقیماً با شخصی که از وکالت یا مشوره وکیل مدافع دیگر در همان قضیه یا موضوع بر خوردار است مکاتبه نماید. مگربه اجازه وکیل مدافع مذکور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د نوموړي مدافع وکیل په اجازه.

(۲)که چیرې مدافع وکیل بل مدافع وکیل ته مکاتبه یا مراسله واستوی او دهغې د محرمیت دساتلو غوښتونکی وی، مکلف دی موضوع څخه مقابل لوري ته خبر ورکړي ، پدی صورت کې دویم مدافع وکیل مکلف دی څو د هغې محرمیت وساتي.

## له تبلیغاتو څخه ناوړه ګټه نه اخیستل

یودیرشمه ماده:

مدافع وکیل نشي کولای، له تبلیغاتو او اړیکو (ارتباطاتو) څخه پداسې توګه ګټه واخلي چې د بل مدافع وکیل عزت او حرمت ته په فردي یا ټولیز صورت سره زیان ورسیږي.

## مصاحبه یا و ینا ( بیانیه)

دوه دیرشمه ماده:

مدافع وکیل نشي کولای، د خپل مؤکل له ښکاره خوښې پرته، د مؤکل یا له هغه څخه په وکالت د اړونده چارو په هکله مصاحبه یا وینا وکړي.

(۲)هرگاه وکیل مدافع مکاتبه یا مراسلی را به وکیل مدافع دیگر ارسال نماید وخواهان حفظ محرمیت آن باشد مکلف است موضوع را به اطلاع جانب مقابل برساند، در این صورت وکیل مدافع دومی مکلف است تا محرمیت آن را حفظ نماید.

## عدم سوء استفاده از تبلیغات

مادۀ سی و یکم:

وکیل مدافع نمی تواند طوری ازتبلیغات وارتباطات استفاده نماید که به عزت وحرمت وکیل مدافع دیگر، به صورت فردی و یا دسته جمعی لطمه وارد گردد.

## مصاحبه یا بیانیه

مادۀ سی ودوم:

وکیل مدافع نمی تواند بدون رضایت صریح مؤکل خود، مصاحبه یا بیانیه یی را در مورد مؤکل یا امور مربوط به وکالت از وی انجام دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

## د بل مدافع وکیل ورپیژندل

### د بل مدافع وکیل دسپارښت په خاطر دمالي وجهې غوښتل

دري دیرشمه ماده:

مدافع وکیل نشي کولای بل شخص ته د وکیل د ورپیژندلو یا سپارښت په منظور، هغه ته حق الزحمه، حق العمل یا بله مالي وجهه ورکړی.

### بل شخص ته د مدافع وکیل ورپیژندل

څلوردیرشمه ماده:

مدافع وکیل نشي کولای، بل شخص ته د مؤکل د ورپیژندلو په منظور،حق الزحمه، حق العمل یا مالي وجهه ورکړی.

### د موکل خبرول

پنځه دیرشمه ماده:

که چیرې مدافع وکیل په داخلی مقرراتو کی د لیکل شوو لارښوونو مطابق، په حقوقی دفتر کې ، خپلو مرستیالانو یا نورو مدافع وکیلانو ته دنده وسپاری، مکلف دی لــومړی خپل موکل له موضوع څخه خبر کړي.

### نوی مدافع وکیل

شپږ دیرشمه ماده:

(۱)که چیری په قضیه کې د مؤظف مدافع وکیل په عوض نوی مدافع وکیل وټاکل شی، نوموړی مکلف دی،نــوی موظف وکیل دقضیې له بهیرڅخه خبر کړی.

(۲)نوی مدافع وکیل مکلف دی پخوانی وکیــل دخپــل عقدشوی وکالت څخه خبرکړي.

(۳)نوی مدافع وکیل هغه وخت په خپل کار پیل کوی چی ډاډه شی پخوانی وکیل اودده موکل دحق الزحمې په هکله تفاهم ته رسیدلي دي.

# فصل چهارم

## معرفی وکیل مدافع دیگر

### مطالبه وجه مالی به خاطر سفارش وکیل مدافع دیگر

مادۀ سی وسوم:

وکیل مدافع نمی تواند حق الزحمه ، حق العمل یا وجه مالی دیگری را به شخص دیگری به منظور معرفی ویا سفارش وکیل به او بپردازد

### معرفی وکیل مدافع به شخص دیگر

مادۀ سی وچهارم:

وکیل مدافع نمی تواند حق الزحمه ، حق العمل یا وجه مالی را به منظور معرفی مؤکل به شخص دیگر بپردازد

### مطلع ساختن مؤکل

مادۀ سی وپنجم:

هرگاه وکیل مدافع وظیفــه یــی رابــه معاونــان خــود یاسایروکلای مدافع مطابق رهنمود های مندرج مقــررات داخلی دردفتر حقوقی بسپارد مکلف است در ابتداء مؤکل خود را از موضوع مطلع نماید.

### وکیل مدافع جدید

مادۀ سی وششم:

(۱)هرگاه عوض وکیل مدافع مؤظف در قضیه وکیلی مدافع جدید تعیین شود ، موصوف مکلف است وکیل مؤظف جدید را از جریان قضیه مطلع سازد.

(۲)وکیل مدافع جدید مکلف است وکیل قبلی را از عقد وکالت خویش آگاه سازد.

(۳)وکیل مدافع جدید زمانی کارخودرا آغاز می نماید که مطمئن گردد وکیل مدافع قبلی ومؤکل او درمورد حق الزحمه به تفاهم رسیده اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

### د تبليغاتو خپرول

اوه دیرشمه ماده:

(۱)مدافع وکیل کولای شي خپل حقوقي خدمتونه تبليغ او پدې برخه کې د تقنيني سندونو او د ټولنې د داخلي، مقرراتو د حکمونو سره سم معلومات خپاره کړي.

(۲)تبليغات، معلومات او مکاتبات نشي کيدلای غير معقول، بې لارې کوونکي، تير ايستونکي او قانون ماتوونکی وي.

### ازادۍ ته درناوی

اته دیرشمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی د خپل مؤکل آزادی ته درناوی وکړي.

### له معيارونو سره د اعمالو سمون

نه دیر شمه ماده:

مدافع وکیل مکلف دی، ددفاع د وکالت د خدمتونو د سرته رسولو او د حقوقی مشورو د وړاندی کولو په وخت کی، خپل کړه وړه ( اعمال) ، د مدافع وکيلانود قانون او دغی اساسنامې کې له ليکل شوو د احکامواو معيارونو سره موافق کړي.

### تخلف

څلورويشتمه ماده:

داساسنامی داحکامو دتخلف په صورت کی متخلف دي اساسنامی داحکاموسره سم تر تاديب لاندی نيول کيږی او شکايت په صورت کی دمدافع وکيلانودقانون (۲۷) مادی

# فصل پنجم

## احکام متفرقه

### نشر تبليغات

مادهٔ سی وهفتم:

(۱)وکیل مدافع می تواند خدمات حقوقی خود را تبليغ و معلوماتی را در زمينهٔ مطابق احکام اسناد تقنينی و مقررات داخلی انجمن نشر نمايد.

(۲)تبليغات،معلومات ومکاتبات نمی تواند غیرمعقول ،گمراه کننده ،فريبنده و ناقض قانون باشد.

### احترام به آزادی

مادهٔ سی وهشتم:

وکيل مدافع مکلف است به آزادی مؤکل خويش احترام بگذارد.

### مطابقت اعمال با معيار ها

مادهٔ سی و نهم:

وکيل مدافع مکلف است حين انجام خدمات وکالت دفاع وارايهٔ مشورهٔ حقوقی، اعمال خودرا با(معيار های مندرج) احکام قانون وکلای مدافع واين اساسنامه موافق سازد.

### تخلف

مادهٔ چهل:

درصورت تخلف ازاحکام اين اساسنامه، متخلف مطابق احکام اين اساسنامه مورد تأديب قرارداده می شود ودرصورت شکايت، شورای رهبری می تواند مطابق بند ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د۳او۴ بند ونو اوداساسنامې د(۴۰ )مـــادې ســـره ســـم درهبری شورا دټولوغړو دوه بردرې برخه په رایو ســـره دمتخلف په تادیب اقدام کیږی**

یو څلویښتمه ماده:

**دمدافع وکیلانو دسلوک اوچلند دډول په هکله دمـــدافع وکیلانو دخپلواکی ټولنی داساسنامی (۱) گڼـــه ضـــمیمه تصویب اودنشریدو وروسته نافذه ده.**

**ومن الله التوفیق**

**و۴ فقرهٔ ۲ مادهٔ ۲۷ قانون وکلای مـــدافع ومـــادهٔ ۴۰ اساسنامه با رأی(دوثلث کل اعضا) به تأدیـــب شـــخص متخلف اقدام نماید.**

مادهٔ چهل ویکم:

**ضمیمه شماره (۱) اساسنامه انجمن وکلای مدافع درمورد طرز سلوک ورفتار تصویب وبعدازنشرنافذ است.**

**ومن الله التوفیق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**